
# د ۸ صبح

د پرون روایت | د نن هینداره | د سبا زیری

## پښتو مجله

لومړی کال ◆ ۳۰ مه گڼه ◆ شنبې، د ۱۳۹۹ د کب ۱۶مه نېټه ◆ بیه ۲۰ افغانۍ


**د افغانستان د سولې په چارو کې د امریکا ځانگړی استازی زلمی خلیلزاد دا ځل له یوې نوې طرحې سره افغانستان ته راغی؛ خو چې هر څه وي افغانان یوازې د جگړې د پای ته رسېدو او دایمي سولې د ټینگښت غوښتونکي دي**



## سرکرښې

### د امریکا نوې طرحه څه ده؟

له هغې وروسته چې د جوبایډن په مشري د امریکا نوي اداري د افغانستان د سولې په چارو کې د دغه هېواد د ځانګړي استازي په توګه د زلمي خلیلزاد ماموریت تمدید کړ، نوموړي سیمې ته د سفر په لومړي سر کې کابل ته راغی او له افغان چارواکو او یو شمېر مطرح سیاسي شخصیتونو سره یې لیده کاته وکړل. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د یوه چارواکي په وینا، خلیلزاد دا ځل له یوې نوې طرحې سره کابل ته راغی او دا طرحه یې له ولسمشر غني، د ملي روغې جوړې د عالي شورا له رییس او ځینو سیاسي شخصیتونو سره شریکه کړې ده.

ویل کېږي د خلیلزاد په دغه لس مخیزه طرحه کې د سولې د انتقالي حکومت د جوړېدو وړاندیز شوی چې پر دغه ډول اداري به د بُن ناستې ته په ورته په یوه بله غونډه کې هوکړه کېږي. په دې توپیر سره چې په دغه ناسته کې به د افغان حکومت پر استازو او سیاسي شخصیتونو سربېره طالب مشران هم ګډون کوي.

ځینې سرچینې وایي، پر دې طرحې د افغان دولت او طالبانو د هوکړې په صورت کې به په ترکیه یا بل اسلامي هېواد کې د نړۍ د لویو هېوادونو، د افغانستان د ګاونډیو، د ملګروملتونو سازمان او ناټو سازمان د استازو ګډون په لوړه کچه ناسته ترسره شي.

په دغه طرحه کې د یوه انتقالي دولت د جوړېدو د لارې نقشه اټکل شوې ده. ددې طرحې له مخې، ټاکل شوې د افغانستان د سولې د انتقالي دولت په نوم نوی سیاسي جوړښت رامنځته شي چې درې واړه اجراییه، قضاییه او مقننه قوې به ولري. ددغې طرحې پر بنسټ به د اسلامي فقې یوه عالي شورا او د اساسي قانون د تعدیل یو کمېسیون هم رامنځته شي.

ددغې طرحې له مخې، د افغانستان د امنیتي او دفاعي ځواکونو موجود جوړښت به خوندي پاتې کېږي او د سولې د انتقالي حکومت مشر به د وسله والو قواوو اعلی سرقوماندان وي. همداراز به د سولې په انتقالي حکومت کې د ملي اردو او پولیسو یوه ګډه شورا جوړېږي چې غړي به یې د دواړو لوریو له خوا ټاکل کېږي. دا شورا به په دفاعي او امنیتي برخو او د سولې په انتقالي دولت کې د طالبانو د ادغام د څرنګوالي په اړه مشورې ورکوي.

ددغې طرحې پر بنسټ به د افغانستان په راتلونکي اساسي قانون کې ټاکنې یو اصل وي او راتلونکی ولسمشر به د رښو، سالمو، بې پرې او سراسري ټاکنو له لارې غوره کېږي.

له بده مرغه په دې طرحه کې د سولې د انتقالي دولت د جوړولو اجرایي میکانیزم او د سراسري اوربند او د افغانستان د بې طرفۍ سیاست په شان مسایل په ښه توګه نه دي جوت شوي. ویل کېږي خلیلزاد به دا طرحه په دوحه کې د طالبانو ډلې له استازو او د افغانستان له ځینو ګاونډیو هېوادونو سره هم شریکه کړي.

نور نو افغانان له جګړې، وژنو او ناوړیخوالي سخت ستومانه شوي او د هر ډول طرحې او میکانیزم له لارې چې وي، دوی یوازې د امن او آرامه ژوند غوښتونکي دي.




# لیکلړ


- زلمي خلیلزاد له افغان سیاسي مشرانو سره... ۱
- د افغانستان لپاره د خلیلزاد نوې طرحه څه کېدای شي؟ ۳
- طالبان: د دوحې د موافقې پر ځای د نورو لارو لپاره... ٤
- د روسیې د بهرنیو چارو وزیر: مسکو د «طالبانو د امارت»... ۵
- اروپايي ټولنه: د ناوړیخوالي زرترزره درېدل سولې ته... ٦
- ولسمشر غني: نړیوالې ټولنې ۴۰ کاله افغانان له... ۷
- د بین الافغاني سولې احتمالي بندون او د ماتولو لپاره یې لازمي کړنې ۸
- لنډۍ ۱۰
- مریدنامه ۱۳ ۱۱
- د افغاني ملي سیاست آفت پېژندنه ۱۳
- د دوحې موافقې ارزول؛ طالبانو ګام په ګام شاتګ ته مخه کړې ده ۱٤
- اورنګزېب د دوو کلونو لپاره د ټاکنو خپلواک کمېسیون د رییس... ۱۵
- افغان امنیتي ځواکونه د سولې لپاره شپېږ شمېرې ۱٦
- په ننګرهار کې د انعکاس ټلویزیون درې ښځینه کارکونکې ووژل شوې ۱۷
- د هېواد کانونه او امنیتي ننګونې ۱۸
- بنسټیزه ښوونه او روزنه ۱۹
- په کونړ کې د لمریزې بریښنا شبکې پرانیستل ۲۰



د ۸ صبح له نشراتو څخه:
د کتنپلاوي تر نظر لاندې:
د کتنپلاوي مشر: ا.و.سمندر
سکرتر: محمد ظریف صمیم
مرستیال: محمد عزیز پردېس
پته: قلعه فتح الله، کابل، افغانستان



0700175510 - 0788788799
www.8am.af
shaparsepehr@gmail.com
Taimani/Qala fatullah, Kabul, Afghanistan
www.facebook.com/8am.af
www.instagram.com/8am.af





# زلمـي خليـلـزاد

## له افغان سياسي مشرانو سره د سولې د بهير په اړه خبرې وکړې

◆ د ۸صبح پښتو مجله

◆ م. ظ. صميم

د افغانستان د سولې لپاره د امريکا ځانګړي استازي زلمي خليلزاد د جوبايدن په مشرۍ د امريکا د نوي دولت له رامنځته کېدو وروسته د لومړي ځل لپاره کابل ته راغی.

په کابل کې د امريکا سفارت د اعلان له مخې، خليلزاد به په دې سفر کې د عادلانه سياسي موافقې او دايمي او سراسري اوربند د ټينګښت لپاره هڅې وکړي او ټاکل شوې د افغان حکومت پر مشرانو سربېره د طالبانو له استازو او د سيمې هېوادونو له چارواکو سره هم وګوري.

د افغانستان د سولې په چارو کې د امريکا ځانګړي استازي د کب په يوولسمه نېټه په ارګ کې له ولسمشر غني سره وکتل .

د ولسمشرۍ دفتر د اعلان له مخې، دواړو لوريو د سولې په برخه کې د نورو ګامونو په اړه خبرې وکړې او ددغه بهير پر چټکتيا يې ټينګار وکړ.

د رپوټ له مخې، خليلزاد د سولې بهير په اړه د داخلي اجماع او سيمه ييزې او نړيوالې ډيپلوماسۍ په اړه خوښي څرګنده کړې ده.

د امريکا ځانګړي استازي په افغانستان کې د سولې د ټينګښت لپاره د امريکا د اغېزناک رول په هکله ولسمشر غني ته ډاډ ورکړ.

له بلې خوا، د افغانستان د سولې لپاره د امريکا ځانګړي استازي د کب په يوولسمه نېټه له غرمې مخکې د ملي روغې جوړې د عالي شورا له رييس سره وکتل. په دغه کتنه کې د ملي روغې جوړې د عالي شورا مرستيالانو او د زلمي خليلزاد ملګري پلاوي برخه لرله.

د سپېدار ماڼۍ د اعلان له مخې، دواړو لوريو د سولې مذاکراتو، د امريکا د نوې ادارې له خوا د دوحې د موافقې او د سولې مذاکراتو د بهير د ارزونې، د سولې خبرو د چټکتيا، د دوحې د روانو خبرو، د تاوتريخوالي د کمښت، د سولې په مذاکراتو کې د پرمختګ د لارو چارو او دايمي سولې ته د رسېدو په اړه بحث او خبرې اترې وکړې.

اخوا، د هېواد مخکيني ولسمشر حامد کرزي د افغانستان د سولې په چارو کې د امريکا له ځانګړي استازي سره په کتنه کې ويلي چې د افغانانو غوښتنه د سولې بهير



۸صبح
پښتو مجله ◆ لومړی کال ◆ ۳۰ مه ګڼه ◆ شنبې ◆ د ۱۳۹۹ د کب ۱٦ مه نېټه ◆ بيه ۲۰ افغانۍ





بریالیتوب دی او باید هېڅ پلمه په دغه بهیر کې د ځنډ او ځنډ لامل نه شي.
د حامد کرزي د دفتر د اعلان له مخې، د هېواد مخکیني ولسمشر د کب په یوولسمه نېټه له زلمي خلیلزاد او په افغانستان کې د امریکایي او ناټو ځواکونو له عمومي قوماندان سکاټ میلر سره د سولې د بهیر په اړه خبرې اترې وکړې.
حامد کرزي په دغه کتنه کې ټینګار کړی چې باید په هېواد کې زرتـرزره جګړه او تاوتریخوالی پای ته ورسېږي. هغه وېلي چې سوله د هر افغان ملي او حیاتي حق دی.
مخکیني ولسمشر همداراز د امریکا او د سیمې د لویو هېوادونو په همکارۍ او همغږۍ د سولې بهیر پر بریالیتوب ټینګار کړی دی. حامد کرزي په هېواد کې د سولې د ټینګښت په اړه د ملګروملتونو سازمان رول هم مهم وباله.
همداراز د افغانستان د سولې په چارو کې د امریکا ځانګړي استازي د کب په دوولسمه نېټه د ملي جنبش ګوند له مشر او د ولسمشر له پخواني مرستیال مارشال عبدالرشید دوستم سره وکتل.
د ملي روغې جوړې د عالي شورا د مرستیال عنایت الله بابر فرهمند په وینا، مارشال دوستم په دغه کتنه کې ټینګار وکړ چې امریکایي ځواکونه باید په مسوولانه توګه له افغانستانه ووځي.
د امریکا او طالبانو ترمنځ د دوحې د هوکړې له مخې بهرني ځواکونه باید د روان کال تر مې میاشتې له افغانستانه ووځي.
فرهمند ویلي چې له مارشال دوستم سره د خلیلزاد په کتنه کې د سولې مذاکراتو بهیر د چټکتیا، د امریکا د رول او مذاکراتو لپاره د مشرانو او سیاستوالانو ترمنځ د اجماع د رامنځته کولو په اړه خبرې اترې وشوې.
د نوموړي په وینا، خلیلزاد په لوړه کچه د یوې غونډې د جوړېدو په اړه هم خبرې کړې او ویلي یې دي چې دا ناسته به د سولې مذاکراتو بهیر له بریالیتوب سره مرسته وکړي.
مارشال دوستم ویلي چې د جګړې پای ته رسول او عمومي اوربند په مذاکراتو او سولې ته په رسېدو کې د پرمختګ لامل کېږي. خلیلزاد د کب په دوولسمه له عبدرب الرسول سیاف او یو شمېر نورو سیاسي شخصیتونو سره هم وکتل.
د امریکا د سنا جرګې د بهرنیو اړیکو د کمېټې مرستیال مایک مک کال ویلي چې د افغانستان د سولې په چارو کې د دغه هېواد ځانګړي استازي د دوحې موافقې د تعدیل په موخه سیمې ته سفر کړی دی.
د رپوټونو پر بنسټ، خلیلزاد له یو شمېر نورو سیاسي مشرانو له هغې جملې د حزب اسلامي له مشر ګلبدین حکمتیار سره په انلاین ډول خبرې اترې کړې دي.
د افغانستان د سولې بهیر په اړه سیمې ته د خلیلزاد تازه سفر د دوحې تړون له لاسلیکه د یو کال په پوره کېدو سره پیل شوی دی. دغه موافقه د امریکا د نوي حکومت له خوا ارزول کېږي.
د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د افغانستان د سولې لپاره د امریکا ځانګړی استازی له افغان مشرانو او د سیمې هېوادونو له چارواکو سره خبرې اترې کوي.

# د افغانستان لپاره

## د خلیلزاد نوې طرحه څه کېدای شي؟

◆ لیکوال: اسحق علي احساس
◆ ژباړن: م. ظ. صمیم

په امریکا کې سیاسي بدلونونه د افغانستان د سولې پر بهیر هم بې اغېزې نه دي، جوبایډن له برې وروسته که څه هم د افغانستان د سولې په چارو کې د امریکا د ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد ماموریت تمدید کړ، خو له طالبانو سره د امریکا د سولې هوکړې چې د هغه په هڅو سره لاسلیک شوې وه د بیا ارزونې پرېکړه یې وکړه. د بایډن دولت اعلان وکړ چې د دوحې موافقه لیک له سره غور وروسته به د افغانستان د مسلې په اړه طرحه اعلان کړي. ددې پرېکړې پایله په نه اعلان شوې بڼه، ددغه هوکړه لیک ځنډول و. بین الافغاني مذاکرات له بندون سره مخامخ شول او د طالبانو پلاوېو اسلام آباد، تهران، مسکو او عشق آباد ته سفرونه وکړل. د طالبانو ډلې سیاسي مرستیال او په دوحه کې د دغې ډلې د سیاسي دفتر مشر ملابرادر د امریکا ولس ته په خطاب کې یو لیک ولیکه او د دوحې د هوکړه لیک د ګټو خبره یې وکړه. افغان دولت بیا راتلونکې پسرلی خونړی وباله او په وروستي مورد کې، د هېواد د ملي امنیت شورا اعلان وکړ چې افغانان د دوحې له هوکړې نهیلي شوي دي. دا په امریکا کې د سیاسي بدلونونو پایلې دي چې د افغانستان د سولې په بهیر کې رامنځته شوې دي.

د کب په یوولسمه نېټه زلمي خلیلزاد په امریکا کې د نوي حکومت له رامنځته کېدو وروسته د افغانستان د سولې په تړاو خپلې هڅې پیل کړې او لومړی کابل ته راغی او پر ولسمشر غني او عبدالله عبدالله سربېره یې له مخکیني ولسمشر او یو شمیر سیاسي شخصیتونو سره خبرې اترې وکړې. له هغې وروسته خلیلزاد دوحې ته ولاړ ترڅو د دولت او طالبانو له مرکچي پلاوېو سره وګوري. داسې ښکاري چې دا ځل د امریکا نوې ادارې افغان دولت ته لومړیتوب ورکړ له همدې امله یې لومړی کابل ته سفر وکړ. د بایډن ادارې کابل ته لومړیتوب ورکړ او دوحه د طالبانو د سیاسي استازولۍ په توګه له کابل وروسته دوهم ځای لري.

له دې وراخوا بله موضوع دا ده چې ښاغلی خلیلزاد له یوې ځانګړې طرحې سره کابل ته راغی او په یوه نوي پروګرام سره یې د سفرونو نوی پړاو پیل کړی دی. ویل کېږي چې نوموړي د خپلې طرحې دوې نسخې ولسمشر محمد اشرف غني او د ملي روغې جوړې د عالي شورا رییس عبدالله عبدالله ته سپارلې دي. له سیاسي خبرو او رسمي اعلامیو پرته چې د افغانستان د سولې په چارو کې د امریکا ځانګړي اسازي د سفر په اړه د ارګ او سپېدار ماڼیو له خوا خپرې شوې، ښاغلي خلیلزاد په یوې نوې او ځانګړې طرحې سره د هڅو نوی پړاو پیل کړی دی. که څه هم ددغې طرحې جزیات نه دي روښانه شوي، خو ګمان کېږي چې ښایي د افغانستان د سولې په چارو کې د امریکا د ځانګړي استازي د هڅو په نوي پړاو کې درې موضوع ګانې د اټکل وړ وي.

د دوحې هوکړه لیک پر ځینو مادو له سره غور کول، له هغې جملې له افغانستانه د امریکا او د هغې د متحدینو د ځواکونو د وتلو وخت ښایي د امریکا د تازه تګلارې یوه برخه وي. یو شمېر کارپوهان او امریکایي بنسټونه په مې میاشت کې د امریکایي او ناټو ځواکونو وتل، هغه هم په داسې شرایطو کې چې د سولې په هڅو کې کوم پرمختګ نه دی شوی او د افغانستان کړکېچ په پېچلې بڼه دوام لري، دا کار د امریکا او د هغې د متحدینو لپاره د منفي پایلو لرونکی بولي. د بایډن دولت له رامنځته کېدو وروسته په امریکایي رسنیو کې یو شمېر کارپوهانو او بنسټونو بېلابېل نظرونه ورکړي دي چې تر ډېره له افغانستانه په بېړه د امریکایي ځواکونو وتل مناسب ګام نه بولي. دغه امریکایي کارپوهان د دوحې د هوکړې له مخې له افغانستانه د ځواکونو ایستل یوه تېروتنه بولي. کېدای شي د بایډن دولت په تګلاره کې دا ډول مسایلو ته په کتو طرحه برابره او خلیلزاد په دې برخه کې خپلې هڅې بیا پیل کړې وي. له افغان دولته د ملاتړ او طالبانو سره د جګړې له لوري سوله ساتو ځواکونو ته په افغانستان کې د امریکایي او ناټو ځواکونو د حضور د رول او بڼې بدلېدل ددغې طرحې مهمه برخه کېدای شي. که امریکا د افغانستان د جګړې لوري د سوله ساتنې رول ته راضي کړای شي، د خپلو او ناټو ځواکونو حضور به وغځوي او په بېړه به د وتلو او کورنۍ جګړې اندېښنې هم لېرې کړي.

د خپل شته والي له غځولو وروسته دوهمه مسله چې کېدای شي د خلیلزاد په طرحه کې ځای ولري، د افغانستان د سولې په بهیر کې د نوي فورمول رامنځته کول دي. ویل کېږي چې د ننه په هېواد کې ځینې کړۍ د امریکا په ګډون له ځینو بهرنیو هېوادونو سره په همغږۍ د بُن کنفرانس ته په ورته طرحې کار کوي. ددغې طرحې له مخې، د افغانستان د جګړې ټول اړخونه باید په خبرو کې ونډه ولري او د مذاکراتو له لارې د هېواد د راتلونکي سیاسي جوړښت، اوربند، بیا ادغام او له سولې وروسته دولت کې د سیاسي ګډون پر سر هوکړې ته ورسېږي. په هغه صورت کې چې په افغانستان کې د امریکایي او ناټو ځواکونو ماموریت د سوله ساتو په توګه دوام وکړي او خبرې هم د ملګروملتونو او د نړۍ د هېوادونو تر څارنې لاندې پرمخ ولاړې شي بې له شکه چې د سولې مذاکرات به مثبتې پایلې ولري.

دریېمه موضوع هم په نویو شرایطو سره د دوحې بهیر دوام دی. هغه څه چې د دوحې په بین الافغاني مذاکراتو کې موجود نه و، د څارونکي، تضمینونکي او منځګړي پلاوي نشتوالی دی. همدارز د خبرو لپاره د روښانه تګلارې نه شتون ددغو مذاکراتو بله ستونزه ده. له همدې امله، دا خبرې جدي پړاو ته داخلې نه شوې او له بندون سره مخامخ وې. دغې تجربې ته په پام سره ویلای شو که امریکا کومه بله تګلاره غوره نه کړي نو د دوحې بهیر به د څارونکي پلاوي، تضمینوونکو او منځګړو په ګډون پرمخ ولاړ شي. په دې صورت کې هم کېدای شي یو ځل بیا په هېواد کې د جګړې پای ته رسېدو او د اوربند ټینګښت ته هیله مندي زیاته شي.



## طالبان:

# د دوحې د موافقې پر ځای د نورو لارو لپاره هڅې نه بریالۍ کېږي




◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ م. ظ. صمیم

طالبانو ډلې د دوحې د موافقې په کلیزه کې ددغې هوکړې د اجرا د خرنګوالي په هکله خپل دریځ اعلان کړ.
دغې ډلې د کب په لسمه نېټه په یوه اوه ماده ییزه اعلامیه کې د دوحې هوکړه لیک د افغانانو او امریکا لپاره تاریخي فرصت بللی دی.

طالبانو په دغه اعلامیه کې ویلي چې د دوحې هوکړه لیک په افغانستان کې د سولې او ثبات د راتلو لپاره عملي لاره رامنځته کړې او ددغې هوکړې پر ځای بله هر ډول هڅه ناکامه ده.

دغې ډلې همداراز ویلي چې له ځینو عملي نیمګړتیاوو سره سره، د دوحې موافقه په مثبت لوري روانه ده او دواړه خواوې به یې له پایلو ګټه پورته کړي.

طالبانو ډلې په دغه اعلامیه کې زیاته کړې چې امریکا د دوحې د هوکړې پر بنسټ ژمنه کړې چې په ۱۴ میاشتو کې به له خپلو متحدینو سره ټول پوځیان، غیر دیپلوماتیک کارکوونکي، شخصي امنیتي قراردادیان، استادان، سلاکاران او خدماتي کارکوونکي له افغانستانه باسي.دغې ډلې په هوکړه لیک کې د خپلې ژمنې په یادولو سره ویلي، طالبان هم ژمن دي چې چا ته اجازه ورنه کړي، د افغانستان له خاورې د امریکا او د هغې د متحدینو امنیت له ګواښ سره مخامخ کړي.

طالبانو ډلې ویلي چې د دوحې هوکړه لیک ټولو مادو ته ژمن دي او عملي کول یې د افغانستان د روان کړکېچ د اوارې او سولې د ټینګښت لپاره اغېزمنه لار ده.

طالبانو له امریکا څخه هم غوښتي چې د موافقې د ټولو مادو په اجرا کولو سره، په افغانستان کې د سولې د ټینګښت لپاره خپلې ژمنې عملي کړي.

دغې ډلې همداراز ویلي چې د طالبانو د پاتې بندیانو د خلاصون او له تور لیسته ددې ډلې د مشرانو د نومونو د ایستلو ژمنې نه دي عملي شوي او باید د روانو بین الافغاني مذاکراتو د چټکیا لپاره عملي ګامونه پورته شي.

طالبانو ادعا کړې چې د هوکړې له مخې دوی خپل بریدونه کم کړي او پر لویو پوځي او استخباراتي مرکزونو بریدونه نه دي شوي. دغې ډلې همداراز وېلي چې د ولایتونو او ولسوالیو د سقوط لپاره یې پروګرام نه دی عملي کړی. په داسې حال کې چې ملي دفاع وزارت وایي: په روان کال کې یې د اتو ولایتونو او په لسګونه ولسوالیو د سقوط په موخه د طالبانو بریدونه په شا تمبولي دي.

طالبانو ډلې له قطر، د ملګروملتونو سازمان له امنیت شورا او ټولو هغو هېوادونو او نړیوالو څارونکو چې د موافقې د لاسلیک په مراسمو کې یې ګډون درلود غوښتي چې د دوحې د هوکړه لیک د بشپړ عملي کولو مسوولیت ادا کړي.

د جوبایډن اداره د دوحې د هوکړه لیک او هغو ژمنو د ارزونې په حال کې ده چې طالبانو یې د عملي کولو هوکړه کړې ده.

د افغانستان د ملي امنیت شورا له دې مخکې وېلي و چې د دوحې د هوکړې په لاسلیک کې له افغان دولت سره مشوره نه وه شوې او له همدې امله دا موافقه د سولې د ټینګښت او وینو تویېدو د بندیدو په برخه کې ناکامه ده.
حکومتي چارواکو په ځلونو ویلي چې د دوحې په موافقه کې طالبانو ته زیات امتیازات ورکړل شوي دي.

## د روسيې د بهرنيو چارو وزير:

# مسکو د «طالبانو د امارت» له بېرته راتګه ملاتړ نه کوي



◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ ژباړه: م. ع. پ

د روسيې د بهرنيو چارو وزير وايي چې هېواد يې د طالبانو له امارت څخه ملاتړ نه کوي او له تور لېسته د دغې ډلې د مشرانو د نومونو ايستلو لپاره هم د سولې مذاکراتو کې پرمختګ ته اړتيا ده.

د هېواد د بهرنيو چارو وزير محمد حنيف اتمر مسکو ته په سفر کې له خپل روسي سيال سرګي لاوروف سره وکتل. د افغانستان او روسيې د بهرنيو چارو وزيرانو د روان کال د کب په اتمه نېټه د خپلو خبرواترو پايلې په خبري ناسته کې اعلان کړې.

دواړو لوريو په دې ناسته کې د دوه اړخيزو همکاريو او سولې، سياسي، اقتصادي او کلتوري برخو کې د دوه اړخيزو اړيکو پر پراختيا ټينګار وکړ.

د بهرنيو چارو وزارت د اعلاميې په اساس لاوروف ويلي چې هېواد يې د طالبانو د امارت له بېرته راتګ څخه ملاتړ نه کوي. روسيې له دې مخکې هم ويلي ؤ چې په افغانستان کې د طالبانو د واکمنۍ له بېرته راتګه ملاتړ نه کوي.

نوموړي همداراز ويلي چې له تور لېسته د طالبانو نومونو د ايستلو لپاره په مذاکراتو کې لازمو پرمختګونو ته اړتيا ده. که څه هم مسکو ځينې وختونه د طالبانو تود کوربه توب کړی، خو د دې هېواد د بهرنيو چارو وزير ويلي چې له طالباني نظامه ملاتړ نه کوي.

د افغانستان د بهرنيو چارو وزير هم ويلي چې، کابل د سولې په برخه کې پر خپلو کړو ژمنو عمل کړی او تمه لري چې طالبان هم خپلې اساسي ژمنې عملي کړي.

محمد حنيف اتمر د طالبان د امارت او له تور لېسته د دې ډلې د مشرانو د نومونو ايستلو په اړه د روسيې له دريځه هرکلی کړی دی. د هېواد د بهرنيو چارو وزير ويلي چې افغانستان او روسيه له ګډو ګواښونو سره مخامخ دي او دواړه هېوادونه بايد له خپلو ګډو سرچينو د دغو ګواښونو د ليرې کولو لپاره کار واخلي. اتمر همداراز د ښاغلي لاوروف په وسيله د روسيې ولسمشر ولاديمير پوتين ته د ولسمشر غني پيغام سپارلی دی. د بهرنيو چارو وزير وويل چې ولسمشر غني په سياسي، اقتصادي او کلتوري برخو کې د دواړو هېوادونو د مناسباتو او اړيکو د پياوړتيا غوښتونکی دی.

حنيف اتمر له خپل روسيې سيال سره د ترهګرۍ، توندلارۍ، نشه يي توکو د قاچاق او له نړيوالو جنايتونو سره د مبارزې په هکله د دوه اړخيزو همکاريو د ټينګښت په اړه خبرې اترې کړې دي.

افغانستان او روسيې هوکړه کړې چې د دوه اړخيزو همکاريو لپاره پر يوې هراړخيزې نقشې کار وکړي.

# اروپايي ټولنه: د تاوتريخوالي زرترزره درېدل سولې ته د طالبانو اراده ښودلی شي

◆ د ۸صبح پښتو مجله

◆ ژباړه: م. ع. پ

اروپايي ټولنې په يوه گډه اعلاميه کې ټينگار کړی چې يوازې د تاوتريخوالي زرترزره پای ته رسېدل د سولې د راتلو او جگړې د ختمېدو په موخه سياسي هوکړې ته د رسېدو لپاره د طالبانو اراده ښودلی شي.

دغه اعلاميه د بشري حقونو، ښې حکومتولۍ او کډوالۍ په اړه د اروپايي ټولنې او افغان دولت د کاري ډلو په درېيمه ناسته کې خپره شوې ده. دا ناسته په انلاين بڼه ترسره شوه چې د آسيا- پسيفيک او د اروپا د بهرنيو خدمتونو مرستيال پاولو پمپلوني او د بهرنيو چارو وزارت سياسي مرستيال ميرويس ناب يې مشري کوله.

اروپايي ټولنې له ښکېلو اړخونو غوښتي چې د ملکي وگړو د ساتنې په پار نړيوالو بشري حقونو ته درناوی وکړي او د ملکي وگړو، ښوونيزو او روغتيايي بنسټونو او د بشر دوستانه خدمتونو کارکوونکو د ساتنې لپاره بايد د سولې د پايلو په تمه واوسو.

د ناستې دواړو اړخونو ټينگار کړی چې د ښځو، ځوانانو، لږکيو، معلولينو، کډوالو او د جگړې قربانيانو استازي دې د سولې په خبرو اترو کې برخه ولري او دغه بهير دې د افغانانو په مالکيت مخ ته ولاړ شي. دوی همداراز ټينگار کړی چې په تېرو ۲۰ کلونو کې د بشري حقونو لاسته راوړنې دې د مذاکراتو پرمهال او له مذاکراتو وروسته خوندي او وده دې ورکړل شي. په دې ناسته کې د تاوتريخوالي د زياتوالي په اړه اندېښنه څرگنده شوه او دواړو لوريو د رسنيو د کارکوونکو او مدني ټولنې د فعالينو د هدفي وژنو غندنه وکړه.

اروپايي ټولنې له افغان دولته غوښتي چې ددغو وگړو د امنيت د ساتلو ترڅنگ دې کره او رښې څېړنې ترسره کړي، مجرمين دې محاکمه او د ترسره شويو اقداماتو په اړه دې خلکو ته بشپړ معلومات وړاندې کړي.

په دې ناسته کې همدارنگه د ښځو او ماشومانو په وړاندې د تاوتريخوالي پر عاملينو د قانون پلي کولو، له مذهبي لږکيو سره له توپيري چلند پرخلاف د مبارزې، د ازادو او عادلانه ټاکنو ترسره کېدو، له ترهگرۍ سره د مبارزې او کډوالۍ په اړه هم بحثونه وشول.

تمه کېږي چې د بشري حقونو، ښې حکومتولۍ او کډوالۍ په اړه د اروپايي ټولنې او افغان دولت د کاري ډلې راتلونکې ناسته په ۲۰۲۲ کال کې په کابل ښار کې ترسره شي.



## ولسمشر غني:

# نړیوالې ټولنې ۴۰ کاله افغانان له سولې بې برخې کړي دي



◆ د ۸صبح پښتو مجله

◆ م. ظ. صمیم

د هېواد ولسمشر محمد اشرف غني د کب د نهمې د سرتېري ورځې په مناسبت وینا کې وویل چې نړیوالې ټولنې څلوېښت کاله افغانان له سولې بې برخې کړي دي.

ولسمشر د ملي دفاع وزارت په ودانۍ کې د سرتېري ورځې د لمانځنې په مراسمو کې وویل: «نړیوالې ټولنې څلوېښت کاله یو اولس له اوږده تاریخ، ځلانده تمدن او پیاوړو خلکو سره له خپل اساسي حقه چې سوله ده، بې برخې کړی او دا د زغم وړ نه ده، موږ تلپاتې او باعزته سوله غواړو او دا سوله راتلونکې ده.»

ولسمشر غني د خپلو دغو څرګندونو په اړه لازیات توضیحات ورنه کړل، خو وې ویل چې څه موده مخکې یې د ملګروملتونو د بشري حقونو شورا په ۴۶ ناسته کې هم دا موضوع مطرح کړې ده.

محمد اشرف غني وویل چې امنیتي ځواکونه د سولې لپاره د مناسبې فضا په رامنځته کولو کې رغنده رول لري او هغه جګړه چې د افغانانو پرخلاف روانه ده له عدالت او حقانیت سره په تضاد کې ده.

ولسمشر زیاته کړه چې د امنیتي ځواکونو پیاوړتیا او سمبالول د دولت لومړنی دنده ده.

هغه وویل: «نن د افغان اولس او دولت لپاره د ویاړ ځای دی چې د خپلو دفاعي او امنیتي ځواکونو ورځ لمانځي او ستاسو له برکته افغانستان په خپلو پښو کلک ولاړ دی.»

د ولسمشر په وینا، که امنیتي ځواکونه موجود نه وای، دولت به هم نه و، ټول اولس او دولت د امنیتي ځواکونو ترڅنګ ولاړ دی او دغو ځواکونو ته د یوې شتمنۍ په توګه ګوري.

محمد اشرف غني زیاته کړه چې افغان امنیتي ځواکونو په تېرو شپږو کلونو کې څو کلن مزل کچ کړی او له دغو ځواکونو د خلکو ملاتړ په تېرو ۱۴۰ کلونو کې بې مخینې دی.

هغه امنیتي ځواکونه د هېواد د اساسي قانون ساتونکي او پلي کوونکي وبلل او وې ویل چې دا ځواکونه نه یوازې د افغانستان د خپلواکۍ بلکې د نړۍ د امنیت ساتنه هم کوي.

ولسمشر غني ژمنه وکړه چې په ۱۴۰۰ کال کې به د هېواد د امنیتي او دفاعي ځواکونو لپاره د کورونو جوړولو بهیر پیل شي .

په دغه ناسته کې د ملي دفاع وزارت لومړي مرستیال شاه محمود میاخېل وویل چې امنیتي ځواکونه د راتلونکي پسرلي د جګړو لپاره چې ښایي زیاتې شي بشپړ چمتووالی لري.

د کب نهمه د سرتېري په نوم نومولې او هر کال دا ورځ په ټول هېواد کې لمانځل کېږي.



# د بین الافغاني سولې احتمالي بندون او د ماتولو لپاره یې لازمې کړنې

◆ لیکوال: د اقتصاد څېړندوی تحقیقاتی بنسټ مشر،
د لغمان او فراه پخواني والي محمد اصف ننګ

**یادونه: «په لیکنه کې راغلي نظرونه په لیکوال پورې اړه لري او مجله یې رد یا پخلی نه کوي!»**

تر دې دمه د مذاکراتو لړۍ له ټاکلو سناریوګانو سره سمه روانه ده، په دې سناریوي کې څلور مرحلې د پیشبینۍ او تعقیب وړ وي، جدي اراده وجود لري چې د سولې روان بهیر به پر مخ ځي او د شاتګ لپاره یې له هیڅ اړخ سره انګېزه او ګنجایش نشته.

د طالبانو او امریکا ترمنځ د دوحې تړون د افغاني سولې د مخکې زمینې په توګه د بین الافغاني خبرو لپاره اساس جوړ کړ او بیا د بین الافغاني خبرو لپاره د افغانستان دولت د حسن نیت او اعتماد سازۍ لپاره لازمې کړنې ترسره کړې، د طالبانو څه د پاسه شپږ زره بندیان یې له بندیخانو خلاص کړې، د سولې وزارت او د مصالحې د شورا ایجاد او بیا مرکچې پلاوي ټاکل او عملاً یې قطر ته استول تر ټول لوی ګامونه و چې واخیستل شول، په مقدماتي پړاوونو کې د مرکچي پلاو ترمنځ د طرزالعمل پر سره پربکړه د دې مرحلې تکمیل بلل کیږي، اما کېدای شي یوځل بیا له نسبي رغولو سره دغه کړنلاره یا طرزالعمل بشپړ او پر بل پړاو (دمخامخ مذاکراتو او اساسي اجنداوو پر سر بحث) عملاً پیل شي.

**دویمه مرحله** د مذاکراتو دوام او پر اجنداوو بحث، چې اوس اوس به شروع کېږي او دا به تر ټولو سخته مرحله وي.

**دریمه مرحله** د سولې جوړونې چې د مصالحې د عالي شورا او هم د طالبانو اړخ د مصالحې د ګروپ اصلي کاري برخه جوړوي، دا مرحله د لوریو ګډ کار، ګډ کمیسیون او ګډ نظارت او ګډ رغنده فعالیت ته اړتیا لري، له هغې جملې د داخلي اجماع رامنځته کول او پراختیا، د سیمه ییزه اجماع او نړیوالې اجماع ایجاد او ملاتړ، دغه مرحله د نړۍ بې ساري مادي او مالي ملاتړ ته اړتیا لري، همدارنګه پدې مرحله د ملګرو ملتونو سازمان او اسلامي هیوادونو د سوله ساتو ځواکونو منځګړیتوب او د سیمه ییزه اجماع پخلا ساتل ډېر اړین او حتمي ماموریت بلل کیږي. په همدې مرحله کې به د اسیرانو د خلاصون، عدالتي خوندیتوب، متقابل زغم، سیاسي حوصله، سالمه مثبته فکري فضا ایجادول او له ماتېدونکو عواملو ډډه کول به خامخا شرط وي.

**او بیا څلورمه مرحله**، د تلپاتې سولې لپاره عملي ګامونه اخیستل، پدې وروستۍ مرحله کې به دواړو طرفینو د مذاکراتو له پریکړو سره سم، د دایمي ثبات لپاره د لارې نقشه جوړه کړې وي او پر تطبیقاتو به یې کار کیږي، یعنې د عادلانه، سراسري، سرې او ټول ګډونه انتخاباتو له لارې د زعامت ټاکل، لازمو تقنیني چارو ته رسېدل او بیا د قانون د واکمنۍ او د دولت تر سیوري لاندې د افغانستان د پرمختګ او سوکالۍ چارې سمبالول.

لومړی مرحله یا مقدماتي پړاو (پر طرز العملونو هوکړې ته رسېدل)، دا مرحله په مناسبه فضا او نسبتاً صمیمانه توګه پای ته ورسیده، خو د امریکا لخوا له طالبانو سره د دوحې پر تړون بیاکتنه او د جګړې په ډګر کې بې ساری شدت د دې لامل شوی چې لوري مذاکراتو ته په نه زړه ور ننوزي، له پلان سره سم د روان ۲۰۲۱ کال د جنوري پر ۵مې نېټې باید بین الافغاني مذاکرات پیل شوي وای، خو د یوې میاشتې په تیریدو سره د طالبانو له اړخ ځانګړې دلچسپۍ نه لیدل کېږي، که څه هم د طرفینو د تماس کمیتې خپلې ناستې پیل کړې، خو تر څو چې د جوبایدن د حکومت له لوري د سویلې آسیا او بیا د افغانستان په اړه دریځ واضح نشي امکان یې نه ځي چې د بین الافغاني مذاکراتو لپاره لوري زړه ښه کړي. که چېرې د امریکا نوی اداره د دوحې د تړون په هکله تعدیلي یا ترمیمي طرحې ولري، نو بیا خو طبیعي ده چې د مذاکراتو په طرزالعمل، د مذاکراتو پر فارمټ او د منازعې د حل په هکله یو مقدار نوي کارونه په کاري لست کې شامل کېدای شي، خدای دې وکړې چې دا هرڅه ترمیمي او رغنده پرمخ ولاړ شي، خو که خدای مکړه را روان بدلونونه د طالب روان او را شامل شوي جریان خفه کړي نو بیا د جګړو تسلسل ادامه مومي، هیله لرو هغه حد ته دغه پرمختګ په شاتګ ونکړي.

### د بین الافغاني مذاکراتو حاد اړخونه

۱. تر ټولو حاده موضوع د مذاکراتو لپاره د اجنداوو ټاکل یا د لومړیتوب وړ فهرست ترتیبول: د طالبانو هیله او تمه دا ده چې چون د دوحې تړون د خبرو اساس تشکیلوي یعنې، د (نوی اسلامي حکومت) پر تشکیلاتو او عملي کېدو بحث به لومړنۍ اجندا وي، د پاتې جنګي اسیرانو بشپړ یا اکثریت طالب غړو خلاصون، د واک او اقتدار د سوله ییز لېږد پر میتودونو او کړنلارو بحث، د انتقالي عدالت بحث، د بهرنیانو بشپړ وتل، له دوی سره د اړیکو حدود، د طالب جنګیالو د برخلیک بحث او د واک د لېږد لپاره پر عبوري کړنلارې یا انتقالي اداري بحث به په اجنداوو کې لومړیتوب ولري.

۲. دېخوا ته د افغانستان دولت او نړیوال متحدین یې لکه څنګه چې یې د ۱۳۸۸ کال د لندن کنفرانس په تسلسل کې دا ترجیح او حرص درلود، چې طالبان دې له موجوده سیاسي پروسې سره ادغام شي، په تېره معتدل طالبان، دوی دې موجوده جوړښتونه او تسلسل نه زیانمنوي، یعنې د (اغیزناک مشارکت او مثبت انضمام) له لارې دې

سولې بهیر نتیجې ته ورسول شي، پر جگړې د غلبې دغه لاره تر ټولو غوره فورموله وه خو د کم اهتمام او داخلي سیاستونو په سبب دغه بهیر کامیاب او عملي نه شو. اوس هم منطقي لاره همدا ده او ښایي دولت پرې تر پایه ټینگ پاتې شي، تر څو ټول طالبان له جگړې لاس واخلي او په سیاسي پروسه کې خپل برخلیک وټاکي، دا دوه هیلې به د اجنداوو د ټاکلو او خبرو د ځنډېدو لامل شي.

۳. تر مذاکراتو مخکې فضا او واقعیتونه: د جنگ او منازعې په هکله د طرفینو لیدلوری ډېر متفاوت دی، نو په همدې اساس به د سولې په هکله د طرفینو مباحث هم سخت او غیر صمیمانه وي.

٤. د سیمه ییزه لوبغاړو او د طالبانو د جنگي جبهې اړخ هم خپل مشکلات لري، هغوی چې پر طالبانو اثر او رسوخ لري، لږترلږه د افغانستان مسئلې ته د خپلو نیابتي سیالیو او نیابتي منفعتونو له عینکو گوري، دوی هڅه کوي چې خپل سیالان په همدې مذاکراتو کې مات یا کمزوري کړي، آسانه نده چې ایران دې زمونږ په قضیه کې د امریکا حضور او ورسره سیاسي رقابت له پامه وغورځوي، په همدې توگه د هند او پاکستان او... نورې سیمه ییزه سیالۍ او مرموزه نیابتي کشمکشونه بې اغیزې وي، دلته نو د اجنداوو په ټاکلو کې دغه (بد لوبغاړې) خامخا خپل فرمایش تداعي کوي او کېدای شي د سولې مذاکرات له نویو نه سنجول شوي بندون سره مخامخ کړي.

٥. د جگړو شدت او تداوم هغه څه دي چې عملاً ددې لامل شوي چې د اړخونو ترمینځ اعتماد او خوشبینۍ په ادنی حد کې پاتې شي.

٦. د مذاکراتو له میز څخه د بیروني فضا، توقعاتو او هیجاناتو مدیریت به هم د طرفینو لپاره سخت ماموریت وي، ځکه چې یو شمېر پلویان به خپله تنده او ناپخلا ترمینالوژي کاروي، چې ښایي د مذاکراتو له پیل سره به دغه تلخ کلامي او تونډ دریځونه د میز صمیمانه فضا له خوابدۍ او خفگان سره مخامخ کړي، مرکچې پلاوي باید خپل کاري چاپېریال له دې مسایلو اغېزمن نکړي.

٧. د ٢٠ کلنو ارزښتونو، جمهوریت، امارت، انتخاباتي زعامت او نوې نړۍ په هکله د طالب نظریات کاملاً د دولت له لیدلوري سره مخالف دي، طالبان دغه هرڅه ته د (فساد او اشغال) د ښکارندې په سترگه گوري، له نړۍ سره د اړیکو په هکله په فکري او هم په ذهني لحاظ د طالبانو جریان سالم نظر نلري، دوی یې د (گناه او وابستگۍ) په تعریفونو کې ځای کوي او چندان یې علاقمند ندي، معنا دا چې طالبان په موجوده نړیوال کلي Global Village کې د ژوند کولو او له نړیوال نظم او قوانینو پیروي کول یو ذلیله حالت بولي.

٨. د طالبانو د سیاسي او پوځي بهیر ترمینځ په ډېر شدت سره د نظریاتو اختلاف موجود دی، پوځي طالبان د قطر سیاسي بهیر ته د شک په سترگه گوري، گواکي دا بهیر د هوس پرستو او راحت طلبو مشرانو کار دی او دوی د جهاد د دوام علاقمند ندي، ځکه خو د مذاکراتو له پیل راهیسې د جگړو په ډگر کې د جگړه غوښتونکو طالبانو لخوا (نافرمانۍ او شدت) زیاته محسوسیږي، پر جنگ د دغو تندلارو طالبانو ټینگار به په مسلسله توگه مذاکرات له بحران او بندون سره مخامخ کوي.

٩. د بندون بل اصلي لامل د دولت او نړیوالې ټولنې لخوا د نورو سناریوگانو نشتون (مثلاً د مشارکت او انضمام لپاره د B پلان، یا په بل عبارت د رغنده مثبت سولې د تطبیق پروگرام نه لیدل کیږي). کیدای شي د نړۍ او دولت له لوري د B پلان نشتون د مذاکراتو روان بهیر له خنډ او بې میلۍ سره مخامخ کړي، دولت او نړیوالو متحدینو ته لازمه ده چې د خپل آیډیال (په سیاسي جریان یا نظام کې د طالبانو د مشارکت او انضمام) لپاره خپلې سناریوگانې او پلانونه ولري، چې د میز تر شا یا د پلانوونکو پر میزونو نه ښکاري! باید دا طرحې په شدت او جدیت سره تر کار لاندې ونیسي، د سولې تر مذاکراتو وروسته پړاو باید په اقتصادي ودې، رغنیزو پروگرامونو او مثبتو کاري زمینو ډکه شي، د عزتمنده گډ ژوند او تر گډ سیاسي چتر لاندې د گډ کار کولو طرحه او...

١٠. همدارنگه د طالبانو له اړخه د یوه مبهم آیډیال، د یوه مبهم حکومت (نوی اسلامي حکومت) مطرح کول یوه سخته اجندا ده، پدې هکله مقابل طرف تشریحات او د ماډل لپاره یې مثال او توضیح غواړې چې په هکله یې هیڅ تشریحي طرحه وجود نلري، نه یې د الامارت په رسمي صفحاتو کې څوک پیدا کولی شي او نه یې هم د ځمکې په کره کې کوم بدیل مثال د طالبانو رهبران او مشران ارائه کوي، که داسې وي نو گرانه ده چې طرفین دې یو بل ته تسلیم شي. په ذهني لحاظ د اسلامي حکومت موجودیت که عیناً امارت وي نو بیا یې ولې د امارت په نوم نه مطرح کوي؟ او که دا کوم بل ډول حکومت وي، نو تشریح خو یې په کار ده، ولس خو قلباً او حضوراً مسلمان دی، اسلام او د اسلام حاکمیت غواړي او له موجوده نظام (جمهوري اسلامي) څخه ملاتړ یې پر همدې بنا دی، حکومت کله هم د اسلام د مقدسو احکامو سره په مغایرت کې عمل نشي کولی. که داسې وي او لوري د متقابلو لیدلورو په هکله قرابت او شباهت ونلري او مبهم تعاریف وجود ولري نو د اجندا تعین او بیا پرې بحثونه تر ډېره حده په یوه خالي خلیج کې د لامبو وهلو په څېر ده، که طرفین واضح سناریوگانې او تشریحي طرحې چې واقعاً موجوده سوله ییز بهیر او د افغانستان او سیمې واقعیتونو ته ځواب ویوونکي نه وي نو د اجندا ټاکل به تر ټولو لویه ستونزه وي او بحث کول به پرې عبث وخت تېرول وي.

پدې خاطر چې دغه روغ او نسبتاً رغوونکی او د مذاکراتو شروع شوی بهیر سالم تداوم پیدا کړي، لازمه ده چې د مذاکراتو تر څنگ دولت خپل اساسي ماموریتونه او له سولې سره مربوط فعالیتونه غښتلې کړي تر څو په ولس کې د امیدوارۍ ذهنیت پیاوړی شي، لکه:

**د واقعیتونو په رڼا کې ځینې سپارښتنې**

په هر قیمت چې وي باید د مذاکراتو روان بهیر ونه درول شي، د دولت اړخ دې له ټول حکمت بلکې د سولې د اصلي مالک په توگه له ټولو روابطو او امکاناتو په استفادې دې د اجنداوو شروع له متفق علیه، مشترکاتو او ذوالمنفعتین څخه شروع کړي تر څو دا مرحله په یوه تسلسل سره پیل شي. کیدای شي مرکچې پلاوی پر دې نزاکت بهتره پوه وي چې کومو موضوعاتو ته په فهرست کې ځای ورکړي... اوربند، د چاړیزو عملیاتو څخه مخنیوی، له ملکي تلفاتو مخنیوی، د عام المنفعه تاسیساتو حفاظت، له فساد، منکراتو او جرایمو سره گډه مبارزه، قانونیت، د عامه امن او نظم ساتنه، د عدالت ټینگښت، د اساسي حقوقو تامین، اجتماعي مصئونیتونه، له غربت سره مبارزه، د دولتي جوړښتونو پیاوړتیا، د خپلواکۍ او ملي واکمنۍ موضوعات، له انارشي او تجزیې څخه مخنیوی، د ښه گاونډیتوب پر بنسټ له نړۍ او گاونډیانو سره اړیکي، اقتصادي ځان بسیاینه، د قانون واکمني،

**پاتې په ۱۲م مخ کې**

# ادبي ورشو

چې په خندا ورته د خوږ زړه پرهرونه نشي
چېرې دې هم ستا د ښایست غوټۍ گلونه نشي
راشه مظلوم زړه مې په یو نظر یوه لمبه کړه
چې په ظالم زړگي دې پاتې ارمانونه نشي
بیا د جنون مستي ځواني غواړي د مستې مینې
بیا چېرته خیال د تورو زلفو ځنځیرونه نشي
په دُعاگانو مې د خوږ زړگي دردونه نه ځي
ځو چې ښېرې د شونډو ترم ټکورونه نشي
وړې مې د روح جنازه چېرته د خندا په اوږو
په وینو سره دې ترې شینکي شینکي خالونه نشي
د نظر غشي مې په زړه باندې په پام اوروه
چېرته زخمي پکې دا ستا نازک یادونه نشي
خاموشې شونډې مې لوستې بیدارېدې ویل یې
اورونه مه چېږه لوگي دې پرې فکرونه نشي
ویده دنیا یې د سائل قلمه مه لړزوه
د فریادي اوښکو مات ستوري تندرونه نشي

رحمت شاه سائل

## لنډۍ

یار مې په شنو سترگو مین دی
زه به دا تورې سترگې چېرته بدلومه

یاره زموږ کلي ته راشه
یو څه په جیب کې ستا لپاره گرځومه

یارې په تور او په سپین نه ده
دا معشوقې خو غنمرنگې خوند کوینه

یارې په تور او په سپین نه ده
زړه چې مین شي تور او سپین نه پېژنینه

یارې خو تا پرې کړه کمبخته
که ما پرې کړې وای ژړلي به دې وونه

یارې خو تا کړه ما خو نکړه
اوس یې چې لنډه پرې کوې ژړا راځینه

یارې د دنگې نجلۍ خوند کړي
د پلو لاندې سرې غلی تېروینه

یارې د زور خبره نه ده
که زړه دې نه وي بیا دې نه مجبورومه

یارې د شنې لښتې گوزار دی
چې چا خوړلی رنگ یې ځای ته نه راځینه

یارې دې ټوله د ټگۍ وه
ښه شو چې زر دې په مطلب ورسېدمه

یارې دې نه کوم ډارېږم
د لرې لرې نندراې به دې کومه

یارې دې نه وه خوب لیدل و
ځو چې مې سترگې غړولې سبا شونه

# مریدنامه ۱۳

◆ **لیکوال څېړنوال عبدالغفور لیوال**

د شاړو پټیو او ویجاړو ویالو له اړخه تېر شول. هیڅا غنم نه وو کرلي، سیند ویالو ته اوبه نه ورکولې، د قولبې زغ او سپاره یوې خواته پراته وو او قولبه یې غوایان د ښار قصاب مخکې کړي وو. د کلا شاو خوا پر ټوله هواره زمکه یوه ونه هم نه وه ولاړه، غله دانه ورکه وه، پیوري غواګانې هم د قصاب ترچړې ورغلې وې او شپنو د وزو، مېږو او ورغومیو رمې نه پوولې، کلي تشېدل او کلیوال، بزګران، شپانه ان ژرنده ګړي او ملایان، باغوانان او میراوان د ډېرینې کلا خواته روان وو. د ډېرینې کلا دروازو ته په زرګونو خلک ولاړوو، کلیوالو ډېرینې کلا ته ځان ور رساوه او په ډېرینې کلاکې د دومره خلکو لپاره ځای نه و.

مرید وپوښتل: یا پیره دستګیره !

دا خلک ولې ټول د کلا خواته روان دي؟

پیر د حیرانۍ خندا ته بېوډې نیولي وو:

کلیوال خبر شوي، چې په کلا کې د پاچاهۍ بوډا میرزا مړ شوی دی او پاچا نوی میرزا ټاکي، ټول خلک غواړي د میرزا ځایناستي شي، دا ښووم کال دی، چې د میرزا پر منصب شخړه ده، پاچا هم حیران دی، چې په دومره خلکو کې څوک وټاکي؟

کلیوالو خپلې زمکې، غوایان، زغ و سپارې، بېلونه او څپرونه وپلورل، په کلا کې یې د پاچا وزیرانو او ندیمانو ته سود سوغات او بډې برابرې کړې، خو لاهم میرزا نه دی ټاکل شوی...

مرید ته هم خندا ورغله او ایله پوه شو، چې نن وې که سبا، د پاچا په کندوانو کې به هم غله و دانه خلاصه شي، بیا به نه میرزا په کار وي او نه وزیر، ځکه په ولږه خو پاچاهي نه کیږي.

داسې یوه ښار ته ورسېدل، چې له بهرنیو سره د ډېرو جګړو له امله وران ویجاړ پروت و، یوه ښاري ورته وویل:

هر کال یو نه یو پردی راشي او ښار ونیسي، ښاریان ووژني او هرڅه لوټ کړي، ودانۍ ویجاړې او دوینو تر ویالو بهولو وروسته په خپله مخه ولاړ شي. چې د اسونو ګردونه یې پرزمکه کیني، نو ښاریان خوشاله شي، څټونه کاږه ونیسي او یو بل ته ووایي: دا دی یو بل مو هم وواهه او وشاړه!


مرید حیران شو، خپل ببرسرى پیر یې وپوښت: یا پیره دستګیره ! د دې خلکو له حاله مې خبرکړه! پیر دا ځل هم په کټ کټ وخندل او ځواب یې ورکړ: دا قوم له عقل څخه د کار اخیستلو په راز نه پوهیږي، ځکه په دې ښار کې د مشرۍ معیار وهل او رټل دي، هر زورور پر هر کمزوري وربلوسي. د پردیو زورورو همدا میراث دوی ته ورپاتې دی.

دا قوم یوازې هغه ورځې لمانځي، چې پردي تر لوټ او وژنو وروسته له ښاره ووځي. دوی هېڅکله د هغو ورځو په ارزښت نه پوهیږي، چې په هغو کې باید د ښار دیوالونه لوړ کړي، د ښاردروازې پخې جوړې کړي او هرکال د هر پردي له راتللو او ښارنیولو مخه ونیسي.

د دې ښار د اوسیدونکیو هرڅه په متو کې دي، په سرونو کې یې څه نه شته، دوی لا په دې نه پوهیږي، چې له دوښمنانو څخه تلپاتې خلاصون د ( سرونو ) کار دی او متې یوازې د دې لپاره دي، چې کندوان له غنمو او دسترخوان له ډوډۍ ډک کړای شي.

پیرۍ تېرې شوې، خو دا ښاریان پوه نه شول، چې ودان او ماړه ښارونه هیڅوک نه شي نیولای.

مرید ګامونه تیز کړل، ښایي د کوم بل پردي یرغلګر د اسونو د پښو اواز یې ترغوږه شوی و.




# د «ما به له تا څه غوښتل؟» کتاب د چاپ په ګاڼه سینګار شو!

◆ **محمد عزیز پردېس**

دغه کتاب د ښاغلي ذکرالله ملنګ د اشعارو ټولګه ده چې د بغلان ادبي بهیر په زیار په کابل کې چاپ او بازار ته وړاندې شو. دا کتاب ۱۵۳ مخه لري چې د ټولنې ناخوالې، انتقادي، حماسي او پند آمېزه موضوعات پکې د شعر په بڼه راټول شوي دي.

ښاغلی ملنګ د دې کتاب په یوه برخه کې وایي:

چې قلم وي، نیمه شپه او سپین کاغذ وي

زه ملنګ هم په رښتیا توره بلا شم

په دغه کتاب کې ښاغلي ملنګ خپل ډول ډول او په زړه پورې شعرونه راټول کړي چې هرڅوک د خپلې خوښې وړ شعرونه پکې پیدا او لوستلی شي.

### د ۹م مخ پاتې برخه

د غښتلي نظام درلودل، د جگړې له مخربه آثارو مخنیوی، د تعلیم، روغتیا او انکشاف په هکله خبري او... داسې ډېر زیات مسایل شته چې عملاً دولت او طالبان پرې متفق دي.

مذاکرات به کېدای شي میاشتې حتی کلونه ادامه وکړي خو له همدې موقع په استفادې دولت ته لازمه ده چې کور د ننه د (ملي وفاق تر منشور لاندې) د نظام د ملاتړ لپاره (سیاسي انگیزه) لازیاته غښتلي کړي، احزاب او مطرح جریانونه په خپل محوریت راټول کړي، د نظام د اصلي ارکانو ترمیځ د مثبتې فضا پراخول، زغم او سیاسي مشارکت لازیات پراخ کړي، له وړو نزاکتونو گذشت وکړي او د سلیقوي تصامیمو له مخې تجرید کونکي اقدامات ترسره نکړي او هم له عکس العملي کړنو ډډه وکړي، دولت باید د ذهني انزوا حالت په اجماعي حالت بدل کړي، که څه هم د جمهوري ریاست له اړخه پدې وروستیو کې دملي اجماع د تقوې هڅې گړندې شوې خو په لویه کچه باید پرمخ لاړه شي او د سیاسي مشارکت پربنسټ ناراض گوندونه او سیاسیون ورخپل کړي.

د دولت اړخ ته لازمه ده چې خپله د سولې او پخلاینې دیپلوماسي د سیمه ییزې او نړیوالې اجماع د ایجاد لپاره غښتلي کړي، هغه هیوادونه چې د (نورو) په خاطر خپلې نیابتي لوبې پرمخ وړي او زمونږ فضا یې خړه او خونړې کړې، باید مونږ د خپلواک سیاست له مخې دوی د آسیا د زړه سولې او ثبات تر اجندا لاندې متحد او ملاتړې کړو، که جگړه د نورو وه خو سوله د افغانانو ده او کاملاً د سیمې د هیوادونو غوښتنه او حیاتي ضرورت هم دی چې پدې برخه کې یې د آسیا د زړه د سولې شریکان گرځولی شو. دلته نړیوال ائتلاف باید د سولې او ثبات لپاره په نړیوال اتحاد بدل شي. د میډیا او مطبوعاتو له لارې د سولې، ملي وفاق او ملي اجماع په هکله د عمومي بسیج ایجاد، د لوړو انساني ارزښتونو په هکله همفکري زیږول او د اغېزمنو وطني تبلیغاتو څپې زیاتول له هغو مهمو کارونو څخه دي چې له اوس نه باید پرې کار وشي، د هیجاناتو او توقعاتو سالم مدیریت وشي تر څو د هر افغان په سینه کې د سولې د مالکیت احساس پیاوړی شي.

دولت ته یکار ده چې خپل پرمختیایي او بنسټیز فعالیتونه تربل هر وخته زیات کړي، له وخت تېروونکو بروکراتو بهیرونو تر ممکنه حده مخنیوی وشي، همدا مرحله ده چې باید ولسي ملاتړ پراخ کړي، پداسې حال کې چې طالبان په دې برخه کې هیڅ امکانات نلري خو په اطرافي ساحاتو کې یې پر ځان د ولس راټولول تشدید کړي، د سرمایې د فرار مخه باید په جدي توگه ونیول شي، د افغانانو ډېره غټه پانگه د کار د نشتون یا د ناامنۍ له وېرې له هېواده بهر وځي، لدې سره غربت او نارضایتي پراخه شوې، د دې ښکارندې په هکله جدي کار یکار دی، د زیربنایي چارو چټکتیا او پراخول دې یو مقدار له بروکراتیکو اجرااتو راویستل شي، د ایمرجنسي او انساني خدماتو پر بنسټ دې رغنیز بنسټیز کارونه چټک شي، ترڅو د سرمایې د جذب او مصرف زمینه او د کارموندنې فرصتونه پراخ شي.

نړیوال حضور معناداره کول او د منطقي توجیه او نویو ترونونو له مخې یې رول غځول: په سوله کې د سیمې او نړۍ شریکول باید په شدت سره تعقیب شي، باید له یاده ونه باسو چې دلته د امریکا او متحدینو حضور د سپتمبر د یوولسمې پېښې په ملاتړ بنه موندلې، اوس هم نړیوال متحدین او ناټو د امریکا په سترگو دلته پراته دي، نو یکار ده چې نړیوالو حضور او مشارکت د یوه نوي باب او نوي فصل په توگه بیا تعریف او تقویه شي، دلته باید نړیوال حضور (د سوله ساتې، یا حافظ صلح حضور) په توگه وي او مستقیماً د افغانستان د سولې او ثبات پر محور بیا تنظیم شي. موقت او هدفمند حضور، د اقتصادي مشارکت حضور، د سوله ساتونکي حضور، نه جنگي حضور د ټولو د قناعت وړ گرځېدای شي. د خاورې او وگړو ساتنه، د قانون حاکمیت، له جرمونو سره مبارزه او د ملي ثبات مسوولیت نیغ په نیغه د حکومت دنده ده او دا رول باید لاپیاوړی او په بشپړه خپلواکۍ ادا شي، تر ډېره حده به جنگیالي او طالبان هم پداسې رغنده رول قناعت وکړي او له بغاوته به لاس واخیستل شي. د دولت د سیمه ییز اقتصادي اتصال سیاست، له بهترینو سیاستونو څخه دی چې باید له پروپوزلونو او آرزوگانو په عملي ډگر کې تطبیقي بهیر پراخ شي، د تاپي، ټوټاپ، کاسا ۱۰۰۰، د لاجورد لار، د وربښمو لار، د اوبو دیپلوماسي او حقوقي څرنگوالي او دیته ورته اصلي مسایل کولی شي د نظام عملي وزنه او حساب لازیات دروند کړي. د سیمې هېوادونو د سیاسي، تجارتي او اقتصادي مشارکت لپاره نامحدوده فرصتونه شته چې هر یو یې کولی شي زمونږ په اصطلاح رقیب هیوادونه په شریکو هیوادونو بدل کړي.

یوازې د مذاکراتو میز ټاکونکی نه دی، د افغانستان برخلیک بالفعل له نړۍ او سیمې سره غوټه شوی، یواځې دولت دی چې د عاید او ملاتړ فرصتونه او پوتنسیل لري، د دولت مشروعت تر ټولو لویه پانگه ده چې قانوني او نړیوال اعتبار لري له دې امله ټوله نړۍ او سیمه د افغانستان د مشروع نظام په لین ولاړ دي، دغه فرصتونه باید په بالقوه ځواک او د مشروع اقتدار لپاره حکیمانه وکارول شي، که دولت په دغو سپارښتنو عمل وکړي باور لرم چې روان مذاکرات به کله هم له بندون سره مخامخ نشي، ځکه چې نور متعدد سیاسي او اقتصادي ابزار یواځې د دولت په لاس کې دي او همدا سبب کېږي چې پر طالبانو سیاسي او فکري فضا تنگه پاتې شي او دوی د ولس، خپلو پیروانو، دولت او نړۍ مشروع غوښتنو او د سولې مبارک آواز ته لبیک ووایي. ډاډمن یم چې طالبان د زور او تصرف له لارې نشي کولی سیاسي اعتبار پیدا کړي، دوی به همدا نړیوال کلي ارزښتونه مني، د مذاکراتو روان فرصت تر ټولو ډېر د طالبانو په گټه دی، همدا اوس د سولې د دې نیم بنده بهیر برکت دی چې د طالبانو او امریکا ترمنځ د دوحې ترون لاسلیک شو، د دوی ٦۰۰۰ بندیان آزاد شول، له تور لیسته د ایستلو کار یې پیل شوی، د امریکا او متحدینو له لوري یې پر مرکزونو هوایي حملې او چاپې بندې شوې، د سیاسي فعالیتونو او سفرونو آزادي یې ترلاسه کړې او د یوه سیاسي وزن په حیث ورسره د قانونمند دولت له اړخه تعامل کېږي او... زما په نظر که دغه فرصتونه له لاسه ووتل نو بیا به یې تر ټولو غټ بایلونکی د ستر ملت ترڅنگ، پخپله طالبان وي، دوی به تر ټولو لوی زیان هغه وخت ووینې چې دغه طلایي فرصت او د عظیم ملت آرمانونو ته په کمه وگوري.

طالبان باید پوه وي چې پدې مذاکراتو کې دوی له امریکا سره نه، بلکې له یوه اوږي او هر دم شهید ملت سره مخامخ دي، هغه ملت چې د روانو جگړو قربانیان دي او د طالب د روان جنگ تر ټولو لوړ قیمت یې همدا بیچاره ملت ورکوي، هغه ملت چې سولې او سوکالۍ ته تږی ده او په زړونو کې د هیچا د تورو او فتوحاتو بری نه لمانځي او نه یې د لمانځلو شیمه لري، حقیقي بریا د ولس آواز او هیلو ته لبیک ویل دي.

# د افغاني ملي سیاست آفت پېژندنه




◆ **لیکوال: عبدالغفور لېوال**

**یادونه: «په لیکنه کې راغلي نظرونه په لیکوال پورې اړه لري او مجله یې رد یا پخلی نه کوي!»**

مذهبي او هر ډول اېډیولوژیک افراط په انسان کې د ننه د عقل، عاطفې، رحم، بدلون او پرمختیا له ځواکونو سره ټکر کوي.

افراطیت د رواني عقدو تراکم دی. مذهبي او اېډیولوژیک افراطي بنیادم په اسانۍ انسانوژنه کوي، ځکه ناروغ دی، عقدې لري. ماشوم، ښځه، ملکي او هرڅوک چې د ده په نظر د ده په شان افراطي نه دی، باید ووژل شي.

له انساني وجوده بهر په سیاسي ـ ټولنیز ډګر کې د مذهبي ـ اېډیولوژیک افراط تر ټولو لوی مخالف ملیپال سیاسي ځواک دی.

ملي سیاست یعنې هرهغه سیاسي ځواک چې د یوه هېواد د ملي ګټو، ملي پیاوړتیا، هوسایینې او پرمختګ لپاره فکر وعمل کوي.

د هر هېواد مخالف هېوادونه یا بهرني ځواکونه لومړنۍ پانګونه پر افراطیونو کوي، ځکه هغوی اسانه اخیستل کېږي او ډېر ژر د سیاسي مرییانو او وړیا سرتېرو تر بریده استخدامېدلای شي.

په افغانستان کې هېڅ داسې اېډیولوژیک ـ مذهبي افراطي وګړی، ډله یا جوړښت نه شته، چې ګاونډیو استخباراتو پرې پانګونه نه وي کړې. هر مذهبي افراطي خامخا د ګاونډیو استخباراتو له خوا ملاتړېږي. دا ثابته فرضیه ده او شک په کې نه شته.

د ملي سیاست لوی آفت، خنډ او ستونزه دا ده، چې ګاونډي استخبارات د ملي سیاست له جوړښتونو او تفکر څخه ویرېږي.

لومړنی کار یې دا دی، چې اېډیولوژیک افراط د ملي سیاست پر ضد ودروي او ایډیولوژیک افراط دومره تاوتریخجن، خشن او بېرحمه کړي، چې هرڅوک ووېرولای شي.

د دې په وړاندې د ملي سیاست پلویان، چې نه بهرنی ملاتړ لري او نه هم له بهره ورکړل شوي مادي امکانات ورسره شته، کمزوري، پاشلي، په سلیقه یې اختلافاتو کې ښکېل، یو له بل سره مخالف او ناغېزناک پاتېږي.

مذهبي ـ ایډیولوژیک افراطیون ځکه روي، وحشي او ګواښمن دي، چې بهرنیان یې هڅوي، انګېزه ورکوي، وسله او باروت یې پرېمانه دي. د ملي سیاست پلوي سیاستوال، چې په فکر، علم، ملي ارزښتونو، اخلاقو، عواطفو او اعتدال ولاړ سیاست کوي، نه په کور دننه او نه هم بهر ملاتړي و پلویان لري.

په هوښیارو ټولنو کې ټول ملي سیاستګر سره متحد، له دننه ځواکمن او پیاوړي روښانفکري نهضتونه جوړوي، چې کړای شي، ټولنه او هېواد له کړکېچه وباسي.

په افغانستان کې زموږ ملي سیاستوال دغه وړتیا او شعور لا هم نه لري. سره پاشلي او کمزوري پاتې دي.

د ملي، موډېرن او پرعقلانیت او اخلاقي عواطفو ولاړ ملي سیاستوال ښایي یوه لویه روښانفکره جبهه جوړه کړي، چې د افغان انسان د ژوندي پاتېدا او هوسایني لپاره څه وکړای شي، تر هغه پرته افراطیت د استخباراتو په زور د سرطان په شان د هېواد رګونه ورځ په ورځ راوژني.

# د دوحې موافقې ارزول؛ طالبانو گام په گام شاتک ته مخه کړې ده




◆ **لیکوال: حسیب بهش**

◆ **ژباړن: م. ع. پردېس**

د بایډن اداري له لوري د دوحې هوکړه لیک د بیا ارزونې بهیر سره هم مهاله، طالبانو ځینې نوي گامونه پورته کړي دي. د طالبانو د مشرتابه شورا له لوري په جلا جلا فرمانونو کې دغې ډلې خپلو غړو ته ویلي چې په خپلو لیکو کې د بهرنیو وگړو له جذب او پناه ورکولو ډډه وکړي او مجرمینو ته هم د محکمې له حکم پرته سزا ورنه کړي. دې ډلې مخکې له دې خپلو جنگیالیو ته لارښوونه کړې وه چې د هېواد د لرغونو آثارو ساتنه او بهر ته یې د لېږدولو مخه ونیول شي. دا په داسې حال کې ده چې طالبانو له یو اوږده ځنډ وروسته بېرته د مذاکراتو مېز ته راگرځېدلي دي؛ د سرچینو په وینا هغه ناسته چې په دوحه کې ترسره شوه تقریبا نمایشي بڼه یې لرله. طالبان په داسې وخت کې دا گامونه اخلي چې د امریکا او طالبانو ترمنځ هوکړه د بایډن اداري تر ذره بین لاندې ده او د امریکایي ځواکونو وتل یې ددې هوکړه لیک د شرایطو په عملي کولو پورې اړوند گڼلي دي. په ورته وخت کې په قطر کې د طالبانو ډلې ځینې غړي د بایډن له لوري د دوحې هوکړه لیک په عملي کولو کې د ځنډ په اړه اندېښمن دي. هغوی ویلي، سره له دې چې مذاکرات بېرته پیل شول، خو ددې ډلې له ۷ زره زندانیانو آن یو هم نه دی خوشې شوی او د ولسمشر غني په مشرۍ حکومت ملامتوي چې د طالب بندیانو په خلاصون کې ځنډ کوي.

د دوحې هوکړه لیک د بیا کتنې په اړه د بایډن اداري له پرېکړې یوازې څو ورځې وروسته «طالبانو مشرتابه» خپلو جنگیالیو ته د هغو مواردو په اړه چې مخکې جنجالي ؤ، لارښوونه کړې ده. دغه ډله چې له ۳۸ ورځینې ځنډ وروسته په دوحه کې، د مذاکراتو مېز ته راوگرځېده، د روان کال د کب په پنځمه، یې اعلان کړی چې مجرمین باید د محکمې له حکم پرته مجازات نشي او له مجرمینو ویډیو اخیستل یې هم منعه کړي دي. طالبانو ویلي چې د مجرمینو د جرم ثبوت او د سزا کولو صلاحیت یې یوازې شرعي محکمې ته ورکړی او هېڅوک حق نلري چې په خپل سر مجرمینو ته سزا ورکړي. ددې ډلې مشرتابه خپلو نومول شویو والیانو ته ویلي چې، تر خپل لاس لاندې جنگیالیو ته اجازه ورنکړي چې د محکمې له حکم پرته څوک په سوک، لرگي، دُرې او کېبل ووهي او یا په بله بڼه سزا ورکړي. دغې ډلې خبرداری ورکړی، که جنگیالي له دغې لارښوونې سرغړونه وکړي، نو مجرم پېژندل کېږي او سزا به ورکړل شي.

که څه هم د طالبانو ډلې اعلامیه د کب په پنځمه خپره شوه، خو دې ډلې ویلي چې په دې اړه د طالبانو د مشرتابه فرمان د روان کال د لړم میاشتې په دولسمه نېټه صادر شوی دی.

دا په داسې حال کې ده چې د طالبانو ډله ډېر کله د بشري حقونو د بنسټونو له لوري د صحرایي محکمو په ترسره کولو تورنېږي. طالبانو همداراز د کب په دویمه د یوې اعلامیې په خپرولو سره د لرغونو اثارو پر ساتنې ټینگار وکړ. دې ډلې خپلو جنگیالیو ته لارښوونه کړې وه چې د لرغونو آثارو له ایستلو ډډه وکړي او اجازه نلري چې د پلور یا بل کار لپاره دې لرغوني اثار له هېواده بهر ته ولېږدوي.

ددې اعلامیې په اساس د طالبانو مشرتابه خپلو جنګیالیو ته لارښوونه کړې چې، د لرغونو اثارو او د تاریخي ځایونو له ویجاړولو ډډه وکړي او ساتنه دې ترې وکړي. د طالبانو د مشرتابه له لوري خپلو جنګیالیو ته دغه لارښوونه په داسې مهال کېږي چې یو لړ غبرګونونو سره مخ شوه؛ ځکه چې د یو لرغوني اثر په توګه د بامیان بودا مجسمه د طالبانو له لوري د دوی د واکمنۍ پرمهال په بشپړه توګه له منځه وړل شوي وه.

د دې ترڅنګ طالبانو د سلواغې په پنځه ویشتمه د خپلو ډلګیو مشرانو ته خبرداری ورکړ چې په خپلو لیکو کې د بهرنیو اشخاصو له ځای پرځای کولو یا پټولو ډډه وکړي.

د طالبانو د پوځي کمېسیون هغه اعلامیه چې رسنیو ته رسېدلې، پکې راغلي چې، که داسې یو مورد ولیدل شي نو اړوند قومندان به له دندې ګوښه او دې کمېسیون ته به وروپېژندل شي. دغه اعلامیه په داسې وخت کې صادرېږي چې له دې وړاندې د طالبانو ډلې په خپلو لیکو کې د بهرنیو وګړو او په ځانګړې ډول د القاعدې د جنګیالیو حضور رد کړی ؤ. امریکا لا تر دې دمه د طالبانو ډلې د وروستیو اقداماتو په اړه کوم غبرګون نه دی ښودلی. طالبان په داسې حال کې دا ګامونه پورته کوي چې په دوحه کې بین الافغاني مذاکرات هم له سره پیل شوي دي.

خو په دوحه کې سرچینې وایي چې د مذاکرې مېز ته د طالبانو بېرته راتګ «نمایشي» بڼه لري او ددې ډلې تمرکز د خپلو زندانیانو په خوشې کېدو دی. په قطر کې د دغې ډلې د سیاسي دفتر ځینو غړو حکومت د دوحې کړه لیک ته په نه ژمنتیا تورن کړی. په قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر یوه غړي الجزیرې شبکې ته ویلي چې، د بین الافغاني مذاکراتو له پیلېدو پنځه میاشتې تېرېږي خو د حکومت له زندانونو آن د دغې ډلې یو زنداني هم نه دی خوشې شوی. د طالبانو ډلې دا غړی افغان حکومت ملامتوي چې د طالب زندانیانو په خوشې کېدو کې ځنډ کوي. له دوحې ځخه سرچینې وایي چې طالبان له جدې مذاکراتو مخکې د خپلو نورو بندیانو پر خلاصون ټینګار لري. د طالبانو ډلې دغه غړي د بایډن له لوري د دوحې په هوکړه لیک کې د ځنډ په اړه اندېښنه ښودلې او ویلي یې دي چې امریکا باید دغې هوکړې ته ژمنه پاتې شي.

بین الافغاني مذاکرات د روان کال د وږي میاشتې په وروستیو کې پیل شوي ؤ او د مرغومي په وروستیو کې په ټپه ودرېدل. د مذاکراتو د دویم پړاو له پیلېدو سره هممهاله، طالبانو د خپلو ۷زره بندیانو د خوشې کېدو ترڅنګ د ملګرو ملتونو له تور لیسته د دې ډلې د غړو پر وتلو هم ټینګار کړی ؤ. خو د بایډن اداره د دوحې هوکړه لیک بیا ارزونې ته مخه کړه او ټینګار یې وکړ چې د طالبانو ډلې د تاوتریخوالي کچې له ارزونې، په معنی لرونکو مذاکراتو کې د دې ډلې د ګډون او ترهګریزو ډلو سره د طالبانو د اړیکو پرې کولو څخه وروسته به له افغانستانه د وتلو په اړه تصمیم ونیسي.

# اورنګزېب د دوو کلونو لپاره د ټاکنو خپلواک کمېسیون د رییس په توګه وټاکل شو




◆ م. ظ. صمیم

د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي چې ددغه کمېسیون په داخلي ټاکنو کې اورنګزېب د دوو کلونو لپاره د نوموړي کمېسیون د رییس په توګه ټاکل شوی دی.

په هغه خبرپاڼه کې چې د کب په دیارلسمه نېټه ددغه کمېسیون له خوا خپره شوې راغلي چې د ټاکنو د خپلواک کمېسیون مشرتابه، د رییس، مرستیال او منشي د ټاکلو لپاره د رییس، مرستیالانو او ددې کمېسیون د دارالانشا د حقوقو او روزنیزو چارو د رییسانو په ګډون د ددغه بنسټ د اداري پلاوي انتخابات ترسره کړل.

د خبرپاڼې له مخې، د آزادو ټاکنو له لارې او د رایو په اکثریت سره اورنګزېب د کمېسیون د رییس، مولانا محمد عبدالله د مرستیال او مسافر قوقندي د منشي په توګه وټاکل شول.

په خبرپاڼه کې زیاته شوې چې د ټاکنو قانون د څوارلسمې مادې پر بنسټ، د کمېسیون رییس د دوو کلونو، مرستیال او منشي د یوه کال لپاره دندې ترسره کوي.

په دې توګه د ښاغلي اورنګزېب د کار موده د ۱۴۰۱ کال د کب په دوولسمه او د ټاکنو د خپلواک کمېسیون د مرستیال او منشي کاري دوره د ۱۴۰۰ کال د کب په دوولسمه نېټه پای ته رسېږي.

د وېلو ده چې له دې مخکې حوا علم نورستانی د ټاکنو کمېسیون د رییسې، عصمت الله مل د مرستیال او رحیمي ظریفي د منشي په توګه دنده ترسره کوله.

# افغان امنیتي ځواکونه د سولې لپاره شېبې شمېري

◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ ژباړه: م. ع. پ

د افغانستان د ملي امنیتي او دفاعي ځواکونو د ملاتړ له ورځې سره هممهاله، د هېواد د ملي ځواکونو ترټولو لویه هیله د سولې ټینګښت او په هېواد کې د جګړې پای ته رسېدل دي. د دوی په نظر، خلک له جګړې، تاوتریخوالي او وینه تویېدنې ستړي شوي او د سولې د ټینګښت تمه لري. د ملي پوځ یو شمېر پوځیان چې له طالبانو سره د جګړې په ډګر کې د ګډون مخینه لري، په ټینګار سره وایي چې ټول خلک له جګړې ستومانه شوي او د جګړې د پای ته رسېدو او په هېواد کې د سولې د راتلو لپاره شېبې شمېري.

له بل پلوه د هرات ځینو اوسېدونکو د «یو ګل د سرتېري لپاره» تر عنوان لاندې په یوه ناسته کې، امنیتي او دفاعي ځواکونو ته د ګلانو په ډالۍ کولو د امنیت په ټینګښت کې یې د هغوی هڅې وستایلې او د سرتېري ملي ورځ یې ولمانځله. په ورته وخت کې هغه پوځیان چې له طالبانو سره د جګړې پرمهال یې د بدن غړي له لاسه ورکړي، حکومت په جګړه کې د وژل شویو سرتېرو کورنیو ته د پاملرنې په برخه کې ناکام ګڼي. په جګړه کې د قرباني شویو سرتېرو کورنۍ هم په هېواد کې د جګړې د پای رسېدو غوښتونکې دي.

افغان ملي ځواکونه باور لري چې په هېواد کې د کلونو جګړه او وینه تویېدنه باید پای ته ورسېږي ځکه ټول اولس د سولې د راتلو په تمه دي. هغوی خبرداری ورکوي که سوله ټینګه نشي، نو د هېواد ساتنې او د افغانستان په ګوټ ګوټ کې د مخالفو وسله والو ځپلو ته چمتو دي او اجازه نه ورکوي چې د افغانستان د خلکو امنیت او ارامښت وګواښل شي. د کمانډو پوځ یو قوماندان، فردین سپاه خلکو ته ډاډ ورکوي چې د ملي اردو ځواکونه د بهرنیو پوځیانو له ملاتړ پرته د هېواد په لویدیځ کې ټول هوایي او ځمکني عملیات کوي. هغه باور لري چې امنیتي ځواکونه د سولې او د جګړې پای ته رسېدو لپاره شېبې شمېري او که طالبان سولې ته حاضر نشي وبه وژل شي.

یوه افغانه پوځي مېرمن، مریم چې له طالبانو سره په جګړه کې یې د کورنۍ ځینې غړي له لاسه ورکړي؛ غواړي داسې یوه ورځ راورسېږي چې په افغانستان کې خلک د سراسري سولې کتونکي وي او د جګړې، وېرې او وینې تویېدنې کوم خبر نه وي. د نوموړې په اند که څه هم افغان پوځیان له مخالفو وسله والو سره د جګړې وړتیا لري او کولی شي چې د هېواد امنیت ټینګ کړي، خو په هېواد کې د ۴۰ کلنې خونړۍ جګړې پای او د سولې ټینګښت د دوی غوښتنه ده. د هېواد په لویدیځ کې د ۲۰۷ ظفر قول اردو قوماندان، عبدالروف ارغندیوال باور لري چې د تېر کال په پرتله سږکال جګړه ۴۰ سلنه ډېره شوې ده. د نوموړي له نظره «طالبان په سولې باور نلري» او د تاوتریخوالي د کمولو لپاره هېڅ ګام نه پورته کوي.

د هېواد په لویدیځ کې د پوځ دغه لوړ پوړي چارواکی خپلو تر لاس لاندې ځواکونو ته امر کړی چې د خلکو د ارامښت او د ناامنۍ د مخنیوي لپاره د طالبانو په وړاندې کلک ودرېږي. څو ورځې وړاندې، د هرات والي سیدوحید قتالي په ۲۰۷ ظفر قول اردو کې د وینا پرمهال خبرداری ورکړ چې د پوځ سرتېري بشپړ چمتوالی لري چې د ګرمۍ په موسم کې په هېواد کې د تاوتریخوالي د ډېرېدو سره هممهاله د مخالفو وسله والو پروړاندې د خلکو ملاتړ وکړي.



په هرات کې د ملي پوځ پخوانی غړی مجید حیدري چې دنده یې د سړکونو د مینونو شنډول ؤ، څو کاله مخکې د یوه مین د چاودنې له امله یې یو لاس پرې شو او څه موده وروسته د یوه وسله وال لخوا په ډزو کې یې پښې له کاره ولوېدې.

دغه شخص د جګړې د قرباني شویو له څو نورو پوځیانو سره د نظامي معلولینو د ملاتړ یو بنسټ جوړ کړ. نوموړي له ۸صبح سره په خبرو کې وویل، سره له دې چې نشي کولی طالبان اوبښي او د دوی جنایتونه هېر کړي، خو هیله یې سوله او د جګړې پای ته رسېدل دي. د پوځ دغه پخوانی غړی د جګړې د وژل شویو پوځیانو د کورنیو او وارثینو په اړه د دولت د نه پاملرنې له امله شکایت لري.

که څه هم د پوځ پخوانیو پوځیانو له طالبانو سره د جګړې پرمهال د خپل بدن غړي او خپل عزیزان او خواخوږي له لاسه ورکړي، خو بیا یې هم هیله د سولې او داسې ورځې راتلل دي چې جګړه بنده او سوله ټینګه شي.

په ورته وخت کې د هرات ځینو اوسېدونکو د روان کال د کب په اتمه نېټه د «یو ګل د سرتېري لپاره» تر عنوان لاندې غونډه کې د هېواد امنیتي او دفاعي ځواکونو ته د ګلانو په ډالۍ کولو سره له افغان ځواکونو د ملاتړ ورځ ولمانځله. د دوی له نظره د افغانستان دفاعي او امنیتي ځواکونو په وروستیو کلونو کې د نظام د ساتنې او په افغانستان کې د امنیت او ارامښت لپاره خپل ځانونه قرباني کړل او د افغانستان خلک به هېڅکله د دوی «اتلولي» او «مېړانه» هېره نه کړي.

د سرتېري ملي ورځ په داسې حال کې لمانځل کېږي چې په دې وروستیو کې د هرات د یوه دیني عالم خبرو یو لړ غبرګونونه راپارولي دي. دغه دیني عالم په خپلو خبرو کې له امنیتي ځواکونو غوښتي ؤ چې «له لوږې دې ومري خو غوره ده چې په نظام کې کار ونه کړي»؛ د هېواد له ګوټ ګوټ څخه خلکو او د ټولنیزو رسنیو کارکوونکو د دغو څرګندونو په غندلو سره د امنیتي ځواکونو انځورونه خپاره کړل او افغان پوځیان یې «اتلان» وبلل، همداراز یې د ناامنیو د مخنیوي او له مخالفینو سره د جګړې په پار د دغو ځواکونو ملاتړ وکړ.

دغو موضوعاتو ته په کتو، د هېواد پوځیان هم د افغانستان د نورو وګړو په شان له جګړې او تاوتریخوالي ستومانه شوي او د داسې ورځې په تمه دي چې پر افغانستان د سولې څادر وغوړېږي او بې ګناه وګړي د جګړې قرباني نشي.

# په ننګرهار کې

# د انعکاس ټلویزیون درې ښځینه کارکونکې ووژل شوې



◆ ۸صبح، ننګرهار

◆ حفیظ الله علي خېل - ننګرهار

د کب په دوولسمه نېټه په جلال آباد ښار کې په دوو جلا بریدونو کې د انعکاس ټلویزیون درې ښځینه کارکوونکې ووژل شوې.

شهناز او سعدیه د جلال آباد ښار د لومړۍ ناحیې اړوند بنګړیوالانو کوڅې سره په ډزو ووژل شوې او مرسل بیا د څلورمې ناحیې اړوند قصبې سیمه کې خپل کور ته نږدې وژل شوې ده.

د ننګرهار د حوزوي روغتون مسؤلین وایي چې روغتون ته دوه جسدونه او درې ټپي مېرمنې وروړل شوې چې یوې ټپي مېرمنې بیا په روغتون کې ساه ورکړه.

یوې امنیتي سرچینې ۸صبح ته وویل چې، ددغې پېښې په تړاو یې د قاري بصیر په نوم یو تن نیولی چې اوس مهال تري پلټنې روانې دي.

د ننګرهار امنیه قومندانۍ هم د قاري بصیر نیول تائیدوي. دوی وایي، قاري بصیر د دغو بریدونو مشري کوله او نوموړی له طالبانو سره اړیکې لري. خو طالبانو په دغو پېښو کې لاس لرل رد کړي دي.

د دغې ډلې ویاند ذبیح الله مجاهد په خپل ټوېټر لیکلي چې په جلال آباد کې شوي بریدونه په دوی پورې اړه نه لري.

له پېښې یوه ورځ وروسته رویټرز خبري آژانس رپوټ ورکړ چې داعش ډلې ددغه برید مسوولیت منلی دی.

ولسمشرۍ دفتر، د ملي روغې جوړې عالي شورا، په کابل کې د بهرنیو هېوادونو استازولیو، د ملګروملتونو سازمان دفتر او له رسنیو د ملاتړ بنسټونو دا بریدونه غندلي دي.

نږدې درې میاشتې وړاندې د همدغه ټلویزیون ویانده ملاله میوند هم له خپل موټر چلونکي سره په ورته برید کې ووژل شوه. د هغه برید مسوولیت هم داعش ډلې منلی ؤ. دغو بریدونو د خلکو غبرګونونه هم راپارولي دي. دوی وایي، د ملالې له وژلو وروسته د ننګرهار والي ضیاالحق امرخېل ویلي ؤ چې د ملالې قاتلین یې نیولي او بریدګرو په خپل جرم اعتراف هم کړی دی، خو تر دې دمه د نیول شویو کسانو برخلیک معلوم نشو.

# د هېواد کانونه او امنیتي ننګونې

◆ لیکوال: امین محمدي
◆ ژباړن: م. ظریف صمیم

د سولې خبرو ناڅرګند برخلیک، په هېواد کې د تاوتریخوالي زیاتوالی او په راتلونکي پسرلي کې د دولتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ د جګړو احتمالي زیاتوالی به په هېواد کې د کانونو د ایستلو پر چارو منفي اغیزه وکړي. د جګړې اور چې له اوږدو کلونو راهیسې یې د افغانستان طبیعي زېرمې له خاورو سره خاورې کړې، اوس دا وېره شته چې له دې زیات دغه زېرمې د جګړې ماشین د دوام په توګه وکارول شي. په هېواد کې کلونه ناامني د دې لامل شوې چې د افغانستان منرالي شتمني له هېواده بهر ته ولېږدول شي او یا هم د هېواد پرخلاف وکارول شي. په دې وروستیو کې د کانونو او پټرولیم وزارت د کانونو ۵۶ کوچنۍ پروژې اعلان ته سپارلې چې دا کار عملي شي.

په افغانستان کې د ملګروملتونو پراختیایي سازمان د کلنۍ رپوټ له مخې، **په هېواد کې د منرالونو ایستل لږ تنظیم شوي او تر ډېره په ناقانونه توګه کیندنې کېږي، په ځینو سیمو کې کانونه د یو شمېر سیاستوالانو او مخالفو وسله والو له خوا کنټرولېږي چې د مالیې په اخیستو سره خپل جګړه ییز فعالیتونه تمویلوي. په دې لړ کې، د سیمې خلک ددغو ډلو په مخالفتونو کې راګیر او د بشري حقونو له سرغړونو یې کړېږي.**

له ۱۹۸۰ میلادي کال راهیسې، د هېواد یو شمېر کانونه د پخوانیو جهادي قوماندانانو له خوا اداره کېږي چې د طالبانو له سقوط وروسته موده کې په دولت کې پراخ نفوذ لري. د بېلګې په توګه، ۱۹۸۰ لسیزه کې د پخواني شوروي اتحاد پرخلاف جګړې پرمهال، په پنجشېر دره او بدخشان کې یوې لوېي جهادي ډلې ددغو سیمو واک ترلاسه کړ او له هغې یې د جګړې د تمویل لپاره ګټه پورته کړه. په دې وروستیو کې چې بهرنۍ مرستې کمې او د ودانیزو چارو لپاره د خلکو غوښتنه کمه شوې، ودانیزو شرکتونو هم د کانونو کارونو ته مخه کړې ده.

د تاوتریخوالي زیاتوالي او د مسوولو دولتي بنسټونو له خوا د جدي څارنې نشتوالي د کانونو په برخه کې د فساد لپاره زمینه برابره کړې ده. د بېلګې په توګه، په بدخشان ولایت کې د لاجوردو کان د یوه قوماندان او د هغه د خپلوانو په واک کې دی چې لومړنۍ جوړښت دی، دوی د هغو کان کیندونکو لپاره چې د کانونو د رسمي کارکوونکو په شان کار کوي هغوی ته د کان یوه برخه په اجاره ورکوي. **د کانونو دغه کارکوونکي د دوی د تصدۍ او فزیکي امنیت په بدل کې هغوی ته مالیه ورکوي. د کانونو دغه مسوولین د ناقانونه کیندنو لپاره کارګران ګماري او هغوی ته هم لږ پیسې ورکوي. ددغه راز شبکو فعالیت چې په دولتي ادارو کې د پراخ فساد د کړیو له ملاتړه برخمن دي، ددې لامل کېږي چې د افغانستان منرالي شتمني چورتالان شي.**

په دې کې شک نشته چې د دولتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ د جګړې په زیاتوالي سره، طالبانو ډله به د جګړې د لګښت د



پوره کولو لپاره په یو ډول تر خپل واک لاندې سیمو کې د کانونو ایستل زیات کړي. د تېر په شان به دا ډله د کانونو د ایستلو پر شرکتونو هم مالیه ولګوي او ښایي فشار پرې راوړي چې د کیندنو بهیر چټک کړي او په دې توګه لازیات عواید ترلاسه کړي. د بېلګې په ډول یوازې په ۲۰۱۷ کال کې دغې ډلې د ننګرهار د شوکاټو کان له شرکته د مالیې له لارې اته میلیون ډالر ترلاسه کړي وو. د کانونو د یوه شرکت یا مالیه ورکوونکي په نظر دولت ته د مالیې ورکولو ګټې کمې او د دولت مخالفو ډلو ته یې د نه ورکړې ګټې ډېرې دي. له دې سره سره یو شمېر خلک او د کانونو برخې ځینې شرکتونه په دې باور دي چې طالبان د دولت په پرتله په ښه توګه د دوی د مقرراتو له مخې له خپلو مالیه ورکوونکو ساتنه کوي.

د جګړې او ناامنۍ پرمهال د کانونو ایستل د غیرمسلکي کیندنو لپاره زمینه برابروي. په داسې شرایطو کې چې هېواد له بشپړ امنیت څخه برخمن نه وي، د کانونو ډېری پروژې خپل اکتشافي پړاونه او لومړنۍ ارزونې نه کړې کوي چې پایله یې د سرچینو له لاسه وتل دي. کله چې د کانونو برخې مسوولین په کوچنۍ کچه وسایلو د پانګونې وس ونه لري، د چاودنو په شان طریقو څخه کار اخلي. چاودنه په پراخه توګه د موادو ارزښت او د عوایدو کچه راکموي. همداراز چاودنه د لویو ډبرو د غورځېدو او له خطر سره د کارګرانو د مخامخ کېدو، د مضرو ګازونو د خپرېدو او ځمکې د ښوېدو لامل کېږي. **له بده مرغه باید ووایو چې د افغانستان د کانونو غیرمسلکي او په پراخه توګه کیندنې د هېواد د راتلونکو نسلونو قانوني او ذاتي حق له خطر سره مخامخ کوي.**

د کانونو او پټرولیم وزارت د کلنۍ رپوټ له مخې، په ۱۳۹۹ مالي کال کې، د هېواد په ټولو ولایتونو کې ۷۴۵ فعالیتونه او د ناقانونه کیندنو سیمې په ګوته او سروې شوي دي. که دولت د کانونو د ناقانونه کیندنو د درولو لپاره اقدام ونه کړي، له دې لارې به ډېرې پیسې له پولو بهر او یا د مخالفو وسله والو جیبونو ته ولاړې شي.

لکه څنګه چې دولت اصلي ننګونه ناامني بللې، د کانونو د ساتنې کمېسیون فعالیت هم هېڅ څرک نه لیدل کېږي چې په ۱۳۹۶ کال کې د ولسمشر د حکم پر اساس جوړ شو. په پای کې ویلای شو چې که په راتلونکي هجري لمریز کال کې تاوتریخوالی او ناامنې همداسې دوام وکړي، یو بل کال به هم د کانونو د ایستلو چارې د اور په لمبو کې ترسره کېږي.

# بنسټیزه ښوونه او روزنه

◆ **لیکنه: محمدظریف صمیم**

ښوونه او روزنه د هـرې ټولنـې اسـاس او بنسـټ جـوړوي. پـه کـوم هېـواد او ټولنـه کـې چې ښـوونې او روزنـې ته جدي پاملرنـه او په دې لاره کـې تـر نـورو برخـو زیاتـې حکومتـي او وګړنیـزې هڅـې کېږي په یـو ډول یـې د هغـه هېـواد او ټولنـې ښـه راتلونکـې تضمیـن کړې دی چـې دا تضمیـن نـه یوازې په علمـي ډګر بلکـې په سیاسـي، ټولنیزو، سیاسـي، اقتصـادي، دفاعـي او ورځنیـو چـارو کـې تر سـترګو کېږي. پـه بلـه وینـا پـه کـوم هېـواد کـې چـې لـه لومـړي ټولګـي څخـه د ماشـومانو زده کـړې او روزنـې تـه ژوره پاملرنـه کېـږي او ماشـومان لـه هماغـه پیلـه لیـک لوسـت ته پـه ښـه ډول هڅولـو ترڅنګ پـه ټولنیزو نزاکتونـو، اړیکـو او ورځنیـو چـارو پوهـول کېـږي او پـه یـو ډول یـې پر ځـان ویسـا او بـاور زیاتـوي دا پـه خپلـه لـه کورنـۍ نیولـې تـر کلـي، ولسـوالي، ولایـت او بالاخـره د هېـواد پـه کچـه د راتلونکـي نسـل لـه ښـه راتلونکـي ځـان ډاډمنـول دي.
پـه هغـه ټولنـه کې چې د ماشـومانو ښـوونې او روزنې ته کلکـه پاملرنه کېږي او لـه حکومتـه نیولې بیـا د ټولنـې هـر وګـړی د ماشـومانو پـه وړانـدې پـه واقعـي توګـه د مسـوولیت احسـاس وکـړي، پـه ډاډ سـره ویـلای شـو چـې نه یوازې بـه په راتلونکـي کې دغه نوی نسـل د دوی د ویـاړ سـبب وي بلکـې هېـواد بـه د پرمختګ او سـوکالۍ پـه لور اداره کـړي. دغه مسـوولیت له مینـدو او پلرونو نیولې، ښـوونکي او د ټولنې هـر وګـړي تـه متوجـه دی، خـو که پـه دې لاره کـې جـدي پاملرنه ونه شـي داسـې نـه جبرانېدونکـې پایلـې بـه ولـري چـې پـه هېڅ بیـه بـه یـې جبرانـول ممکـن نه وي ځکه لښـته چې پنډه شـي بیایې سـمول ناشـوني شـي، نـو که ماشـوم ته هـم له هماغه لومړي ټولګي ښـه پام وشـي پـه راتلونکـي کې به ګټورې پایلـې ولري.
پـه دې لاره کـې لـه کورنـۍ وروسـته د ښـوونځي پـه لومړیـو کلونو کې د ښـوونکو رول ډېـر د پـام وړ دی. کـه زمـوږ ښـوونکي لـه ژورې پوهـې، اخـلاص او ښـې ښـوونیزې تـګلارې او میتودونـو کار واخلـي او لـه شـاګردانو سـره د خپلـو بچیانـو پـه شـان چارچلنـد وکـړي، لـه اغیزمنو لارو او ځانګـړې ورتیـا سـره هغـوی لیک لوسـت ته وهڅـوي او د لیک لوسـت ترڅنـګ د هغـوی د روزنـې پـه لار کـې د زړه لـه اخلاصـه زیار وګالـي پـه دې کار سره بـه لـه یـوې خوا خپل خدایـي مسـوولیت ادا کـړي او لـه بلـه پلـوه بـه د ټولنـې د وګـړو پـه وړانـدې د قـدر او عـزت خاونـدان وي او د هېـواد راتلونکـی بـه تضمیـن کـړي.
پـه دې هکلـه د یـوې ریښـتینې بېلګـې یـادول اړیـن بولـم. زمـوږ د ګـران هېـواد پـه یـوه ګاونډ ایران کـې د ښـوونځي د لومـړي ټولګـي د نهـه میاشـتینې ښـوونیز کال پـه پـای کـې زده کوونکـي نه یـوازې هر څـه لیکلـی شـي بلکـې د هغې تر څنګ دومره په ښـو ټولنیـزو اخلاقو سـنبال، اخلاقي او د ټولنیز مسـوولیت احساس یې ډېر غښتلی وي.
د یـوه لومـړي ټولګـي پـه وروسـتۍ ورځ زه دغـه ټولګي ته ورغلـم او پـه خپلـو سـترګو مـې ولیـدل چـې د ښـوونځي پـه پـای تـه رسـېدو د زده کوونکـو پـه څېـرو کـې خواشـیني لـه ورایـه ښـکاریده او ځینـو بـه آن دغـه خفـګان او خواشـیني په زغرده بیانوله او ویل به یې د ښـوونځي پـه رخصتېـدو ډېـر خفـه یـوو ځکـه ښـوونکي بـه مـو یادېږي، د مخـه ښـې پـه مهال د ښـوونکي سـترګې له اوښـکو ډکې وې ځکـه له خپلو شـاګردانو سـره چـې خپـل بچیـان یـې بلـل بېلتون ورتـه ډېر ګـران و. تـر خـدای پامانـۍ مخکـې ښـوونکي شـاګردانو تـه پـه خطـاب کـې وویـل: څـو خبـرې درتـه کـوم او تاسـو یې زمـا د یادګار په توګه درسـره ولیکـئ، شـاګردانو هـم خپل قلمونـه او کتابچې راوایسـتې او په خپلو کوچنیـو ګوتـو یـې دغه لانـدې جملې د ښـوونکي لـه خولـې ولیکلې چـې زه د هغـې کـټ مـټ ژبـاړه رااخلـم: نـن غـواړم چـې د خـدای پامانـۍ املا درتـه ووایـم خو ډېـره راتـه ګرانه ده. مـوږ یـو کال په دې ټولګـي کـې له بې سـوادۍ سـره مبـارزه وکـړه او بالاخره نـن وینو چې د دې لـوی دښـمن پـه وړانـدې بریالـي شـوو. پـه لومـړۍ ورځ چـې تاسـو ښـوونځي تـه راغلـئ پـه خپل بڼ کـې د ګلانو د ګېډۍ په شـان وئ، هـره ورځ بـه ستاسـو د مړاویتـوب پـه اړه اندېښـمن وم او ستاسـو پـه تاندوالـي بـه خـوښ وم، کـه بـه نـاروغ وم آرام مې نه شـوای کولای ځکـه زمـا ګلبـڼ اوبـو تـه اړتیـا لرلـه او لـه ځـان سـره بـه مې ویـل چې خـدای مـه کـړه ګلان مـې مړاوي نه شـي.
زړه تـه رانـږدې ماشـومانو: اوس مو چې یو ښـوونیز کال له یو بل سـره بشـپړ کـړ ستاسـو هره خبره او موسکا مـا ته د لازیاتو هڅـو لپاره هیله را پـه برخـه کولـه. کلونـه وروسـته چـې کلـه زلمیان شـوئ هغـه وخت بـه بیـا فکرکـوئ چـې یـو وخـت کوچنـي او ښـکلي نیالګـي وئ او دا چـې زه د دې تنکیـو نیالګیـو ښـوال وم ویـاړم او افتخـار کـوم.
ښـکلو پرښـتو ښـایي چـې هغه وخت زه ستاسـو پـه یاد هم نـه وم، خو ستاسـو یادونـه بـه تـل زمـا پـه ذهن کـې وي او زه به ستاسـو لـه خوږو خاطـرو سـره ژونـد کـوم. اوس چـې د ښـوونیز کال وروسـتیو شـېبو ته نـږدې شـوي یـوو مجبـور یـم چـې لـه تاسـو نازولـو بچیانو سـره خدای پامانـي وکـړم او تاسـو پـه لـوی څښـتن تعالـی وسـپارم. هیلـه مـن یم تـل لـوی خـدای پـه یـاد ولـرئ، ترڅـو ښـکلی او لـه نېکمرغـۍ ډک ژونـد مـو پـه برخـه وي. بریالـي او سـرلوړي اوسـئ ستاسـو د لومـړي ټولګي ښـوونکی.
پورتنیـو د زړه لـه تلـه راټوکېدلـو څـو کرښـو ته که ښـه ځیر شـو نو دې پایلـې تـه رسـېږو چـې اخلاصمـن او زړه سـوانده ښـوونکي په ریښـتیا هـم د پـلار او مـور پـه شـان لـه خپلـو شـاګردانو سـره مینـه کـوي، نـو انسـان بایـد د خپـل ښـوونکي احسـان او پېرزوینـې هېڅکلـه هېـرې نـه کـړي.
زمـوږ پـه ګـران هېـواد افغانسـتان کـې د تنکیـو ګلانـو او راتلونکو شخصیتونو د ښـې ښـوونې او روزنـې پـه موخـه د ګټـورو او رغنـده ګامونـو او هڅـو پـه هیلـه.



# په کونړ کې د لمریزې برېښنا شبکې پرانیستل



◆ **راپور: حفیظ الله علي خېل**

مسؤلین وايي پر دغه شبکه چې د کونړ په مرکز اسد اباد کې جوړه شوې ۹،۱۸ میلیونه افغانۍ لگښت راغلی چې د ولسي تړون لخوا يې لگښت ورکړل شوی. د کلیو د پراختیا رئیس صفت الله شرفمل وویل چې دا شبکه د ولسي تړون ملي له مخې د ولسونو په لس سلنه ونډه د الکوزي شرکت په تخنیکي مرسته بشپړه شوې، چې ۲۰۸ کورنی به تري گټه واخلي.

ښاغلي شرفمل زياته کړه چې، په دغه شبکه شاوخوا ۹،۱۸ میلیونه افغانۍ لگښت راغلی دی.

د کونړ والي محمد اقبال سعید وویل: د ولسي تړون ملي پروگرام له مخې په مرکز اسعد اباد، نرنگ، خوکی او ماڼوگی ولسوالیو کې د خلکو لومړیتوبونو ته په پام سره سلگونه پروژې پلي شوې او ځینې يې دوام لري.

هغه برېښنا د کونړ د اوسېدونکو مهمه اړتیا وبلله او په یاده برخه کې يې د مرکزي حکومت جدي پاملرنې د ټینگار ترڅنگ د روانو پروژو د تطبیق او نويو منظور شويو پروژو د کار د پیلولو په برخه کې د ولایت مقام د جدي هڅو ژمنه وکړه.

په ولسي جرگه کې د کونړ استازی نعمت الله کرياب وايي چې د کونړ اوسېدونکي د نظام پلویان دي او له ادارو سره په همغږی يې د امنیت په ټینگښت کې د همکاريو ترڅنگ پرمختیايي د پروژو د عملي کولو لپاره شرایط برابر کړي دي.

نوموړي له حکومتي ادارو وغوښتل، چې د ولسي تړون ملي پروگرام د دې ولایت نورو ولسوالیو ته هم وغځوي، چې خلک يو شان د حکومت له پروگرامونو برخمن شي.

کونړ چې پربمانه اوبه لري، که چېرې پرې د برېښنا بندونه جوړ شي دغه ولایت به د خپلې اړتیا پوره کولو ترڅنگ ټول هېواد ته برېښنا ورکړي.

د یادونې وړ ده چې له تېرو څو کلونو راهیسې په کونړ کې د «مناگي» په نوم بند چاري بشپړې شوې خو له تراوسه گټې اخیستو ته نه دی سپارل شوی.

# چین له افغانستان سره د کورونا د ۴۰۰ زره دوزه واکسین مرسته کوي

◆ **م. ظریف صمیم**

په کابل کې د چین سفیر وانگ یو د کب په نهمه نېټه د عامې روغتیا وزارت له سرپرست وحید مجروح سره په کتنه کې له افغانستان سره د دغه هېواد له خوا د کورونا د ۲۰۰ زره نورو دوزه واکسینو د مرستې خبر ورکړی دی. په کابل کې د چین سفارت له دې مخکې اعلان کړی و چې له افغانستان سره ۲۰۰ زره دوزه د کورونا واکسینو مرسته کوي.

د عامې روغتیا وزارت ددې خبر په اعلان سره وېلي چې ددغه وزارت د غوښتنې له مخې، چین ۲۰۰ زره دوزه نور واکسین پر خپلې تېرې مرستې ورزیات کړي دي.

په دې توگه، له افغانستان سره د چین لخوا د کورونا د واکسین کچه ۴۰۰ زره دوزه ته رسېدلې ده.

وحید مجروح د چین له سفیر سره په کتنه کې د کورونا واکسین د دغه ویروس د خپرېدو په مخنیوي کې د روغتیا برخې يوه مهمه اړتیا بللې ده.

په دغه کتنه کې د عامې روغتیا وزارت سرپرست همداراز د جمهوریت روغتون د طبي دستگاوو د فعالولو لپاره د چین د همکارۍ غوښتنه کړې ده.

په هېواد کې د کورونا واکسین د تطبیق لړۍ د کب په پینځمه نېټه پیل شوه. دا بهیر د هند له خوا په ۵۰۰ زره دوزه مرسته شویو واکسینو سره پیل شوی دی. ټاکل شوې په لومړي پړاو کې روغتیایي کارکوونکي، امنیتي ځواکونه او خبریالان واکسین شي.

















رغنیز کارونه د ښه راتلونکي لپاره هیلې رازرغونوي. د ننگرهار د برکاشکوټ سربند چارې شل سلنه پرمخ تللې دي. دغه بند د ننگرهار په کوز کونړ ولسوالۍ کې د موسمي سېلابونو د مخنیوي او کرنیزو ځمکو د خړوبولو په موخه جوړېږي.

عکسونه له ټولنیزو شبکو کاپي شوي دي.

Magazine

Hasht e Subh

Yesterday's Narrative | Today's Mirror | Tomorrow's Hope









امنیتي او دفاعي ځواکونه د هېواد د ځمکنۍ بشپړتیا او ملي واکمنۍ ساتونکي دي.
د کب نهمه ددغو ځواکونو د ورځې په توګه نومول شوې او هر کال په دې ورځ په ځانګړو مراسمو سره د دوی د سربښندنو او اتلولیو قدرونه کېږي.